دا مواد په دوه برخو ویشلای شو :

١ - طبیعي مواد .

٢ - سنتیتك مواد .

طبیعی مواد غالباً د دری ډوله گیاهو څخه لاس ته راځي او هغه عبارت دی د خشخاش ، شاه دانه ، کوکا څخه .

سنتیتك مواد په مصنوعي ډول سره په شیمیایی عمل سره په کارخانو کی جوړیږي .

په هرحال تریاك او د هغه مشتقات لکه دمورفین ، کودین او هیروئین ، چرس او کوکائین او هم یوه د سایکو ترافیکی موادو څخه لکه د - ال ، اس ، دی ، هغه مواد دي چی زیاته استفاده ورڅخه کیږي .

کوم ډولونه چی نن سبا په عام ډول یی عام خلك پیژني او په خاص ډول زموږ په گران هیواد افغانستان او شاو خوا سیمو کی یی رواج زیات شوی دی او خلك یی د تباهی او بربادی کندی ته اچولي دي او لا یی اچوي په لاندی ډول دي :

١ - تریاك .

٢ - چرس .

٣ - هیروئین .

٤ - کوکاین .

٥ - مورفین .

٦ - ماندرکس .

غواړم په دی مادو باندی د جدا جدا عنوانونو لاندی خبری وکړم تر څو د دوی په باب همه جانبه رڼا اچول شوي وي او گران لوستونکی ورڅخه پوره پوره گټه واخلي او په دی عظیمه مبارزه او د خیر کار کی شریك شي . که وکولای شو د خدای په فضل د دی تباه کوونکی مرض څخه نجات ومومو .

کرهنه یی گناه او جرم دی اسلام دغه ډول خلك د شیطان ملگري بولي او څوك چی د خپل دښمن په لمسه کار کوي تر هغه بد بل نشته د دغه ډول خلکو سره دښمنی په

کار ده . داسی دښمنی چی د دغه ډول خلکو د اصلاح سبب شي .

په صحي لحاظ :

نن سبا د نړی ټول اطبأ (ډاکتران) دی نتیجی ته رسیدلي دي چې د نشه یی موادو استعمال د انسان د تباهی سبب دی او د روغتیا څخه یی محروموي او عملاً یی موږ او تاسی د سر په سترګو ګورو چی په نشه یی موادو معتاد خلك د کار او کسب څخه وتلي دي او د خپلی کورنی د اوږو بار او په نهایت کی د خپلی ټولنی د اوږو بارګرځي او خپله معتادین هم په خپل دغه ناوړه عمل نادم دي ولی وخت ورڅخه تیر وي . (عقل سالم در بدن سالم) په داسی حال کی چی یو شخص صحت او روغتیا له لاسه ورکړي نو د هغه عقل به کله روغ پاتی وي او چی په انسان کی عقل سالم نه وي نود خپلی کورنی او ټولنی لپاره به څه په درد دوا شي .

دا ټول هغه واقعیتونه دي چی نن سبا ټوله نړی او نړیوال ورباندی اعتراف کوي او ورسره په مبارزه کی دي .

وایي : « چرا عاقل کند کاری که بار آرد پیشیمانی »

په واقعی ډول انسان باید خپل خیر او شر تشخیص او په هغه لاره لار شي چی خیر یې په کی وي او د هغه لاری څخه ځان وژغوري چی خپله تباهی په کی ګوري . ولی ګورو یو شمیر ځوانان او تنکي ځوانان او حتی زاړه هم د دی عمل سره بی باکانه برخورد کوي او په داسی پیمانه یی استعمالوي چې تصور یی نه شي کیدلای او د خپلی روغتیا او راتلونکی سره اګاهانه دښمنی کوي .

په سیاسي لحاظ :

د چا نه پټه نه ده نن سبا د نشه یی موادو څخه په سیاسی ډګر کی هم په لویه پیمانه استفاده کیږي . زموږ په ختیځ سرحدي غرنی سیمه کی د ځینو انسان دښمنه انسانانو په مرسته د هیروئینو د تولید فابریکی جوړی شوی او د خپلو ډلو ټپلو او

شریکانو په وسیله سر بیره پردی چی نورو ممالکو ته صادریږي په سیمه کی د یوی سیاسی حربی په ډول استعمالیږي او د دی لاری څخه بشري قوه تضعیفوي . ځوانان او تنکي ځوانان په دی وژونکی مرض معتاد کوي اومعتاد کړي دي . او د دی لاری څخه ناوړه بهره برداري کوي ، ځکه چی په دی عمل باندی د خلکو اعتیاد په هر لحاظ د اندیښنی وړ دی او داسی اشخاص شته چی په دی کار کی خاص رول لوبوي او دی کارته سازمان ورکوي تر څو نړیوال د راز راز مرضونو او بدبختیو سره مخامخ کاندي .

په نهایت کی د دی ټولو ستونزو او پرابلمونو د حل یوازینی لاری ګڼی همکاری او هلی ځلی دي چی د هیوادونو اود ولتونو ترمنځ تر سره شي ، او د بین المللی پریکړو رعایت وشي او که نه د تسلیحاتی مسابقو په څنګ کی که دی اورته هم لمن وهل زیات شي نو د ځمکی په سر به انسانان پاتی نه شي او دا کار به خپله د هر انسان په زیان وي نه د یو شخص ، هیواد او ټولنی د پاره .

تریاك :

ما تر مخه په یو څه اجمالی ډول په دی برخه کی رڼا اچولی ده ولی بیا هم څه زیاتو خبرو ته ضرورت لیدل کیږي . غواړم په مادي ، اجتماعي ، اسلامي لحاظ هم ورباندی خبری وکړم .

په مادي لحاظ :

انسان یو اجتماعي مخلوق دی اود یو فامیل په شکل ژوند کوي او د ژوند لپاره هر څه ته ضرورت لري . دغه ضرورتونه په پولي لحاظ او یا په ځینو سیمو کی په تبادلوي شکل مثلاً جنس په جنس اخلي او په پولي ډول هم دغه ضرورتونه پوره کوي . د مثال په ډول که د فامیل ټول غړي په متناسب ډول کار او فعالیت ونکړي او ګټی وټی ونه لري د ژوند ساحه ورباندی تنګیږي او د راز راز ستونزو سره مخامخ کیږي ،

نو که د یو فامیل یو غړی او یا څو تنه د مخدره موادو په استعمال باندی عادت پیدا کوي څه فکر کوی چی په موجوده شرایطو کی به دی څومره وګټی چی په تنهایی ډول سره هم خوراك ، پوشاك ،دارو درمل او داسی نور پوره کړي او هم خپله نشه یی مواد استعمال کړي .

بی له شکه دغه مشکل نشی حلولای او د اقتصادي پرابلم سره مخامخ او په نهایت کی به د نورو جرایمو د ارتکاب سره هم مخامخ کیږي تر څو د خپل اعتیاد لپاره څه روا ناروا پیسی پیدا کړي .

په اجتماعي لحاظ :

جامعه د دغه ډول خلکو څخه نفرت لري . کور کلی ورسره نه کوي . چم ګاونډ ورڅخه بیزار وي . پلار ، مور ، ورور ، قام ، قبیله د دغه ډول خلکو څخه نفرت لري او په تجرید کی پاتی کیږي . په دی خبره سوچ کول په کار دی . هغه څوك چی په خپله ټولنه کی د خپل پردي ټولو منفور شي او په تجرید کی پاتی شی ، هغه به څه ارزش ولري . بی له شکه باید ووایو چی هیڅ .

څکه چی د ټولنی ټول افراد دغه‌ډول کارونو ته ښه نه وایی نو مرتکبین یی هم بد راځي او د دغه خلکو اخلاقی معیار ډیر ټیټ وي او بد اخلاقه خلك په ټولنه کی ځای نه لري .

په اسلامي لحاظ :

د اسلام مقدس دین بذر ، اصراف بی ځایه مصرف ځان په خپل لاس تهلکی ته ارتول عظیمه ګناه بولي او مرتکبین یی د سختی سزأ ور ګڼي . د اسلام په مقدس دین کی نشی کول د شیطان عمل ګنل شوی او څوك چی د شیطان په لاره ځي د خدای (ج) سره دښمني کوي نو پوهیږئ چی د خدای د دښمن سزأ به څه وي ؟

د اسلام مقدس دین ، په اخلاقو باندی پابندي د هر انسان مکلفیت بولي . څوك چی د معاشری او اخلاقو پابند نه وي جامعه ورڅخه نفرت لري او د اسلام مقدس دین دغه ډول خلکو په تجریدولو باندی امر کوي .

اسلام په کلکه امر کوي چی نشه جرم دی او هغه څوك چی نشی کوي خپل اقتصاد ، تولنی ، ژوند ، روغتیا ، دین ، وطن او خلکو ته زیان رسوي . دا هر یو به خپل ذات زما په عقیده په دی لاره کی د نورو تدابیرو د نیولو سره سره ، د سمعی او بصري لاری څخه پراخه تبلیغ خاص ضرورت لري ، په خاص ډول زموږ په اسلامي ټولنه کی په نورو ټولو برسیره د اسلام د مقدس دین د اساساتو په رڼا کی د دغه اعمالو غندلو ته په منبرونو او تکایاوو ، ښوونځیو او پوهنځیو ، عسکري قطعاتو کی پراخه سازمان ورکول او په څنګ کی ورسره د معتادینو دارو درمل او د کرونکو ، توریدونکو سره سخت قانوني برخوردیو ضروري امر دی .

زموږ افغاني ټولنی د خپل ملي مفاخرو په نظر کی نیولو او د اسلامي معتقداتو په لرلو سره باید تر هرڅا د مخ په دی لاره کی سر سخته مبارزه وکړي چې خپله اسلامی ټولنه د نشه یی موادو د استعمال ، تولید ، تورید څخه خلاصه کړي ، خپل ځوان نسل د دغه وژونکي افت څخه وساتي او یوه سالمه ټولنه جوړه کړي .

چرس :

چرس یوه ډیره خطرناکه ماده ده چې په پراخه پیمانه یی معتادین پیدا کړي دي او په بین المللی ډول دغه قاچاق دوام لري . لکه چی په تیرو بحثونو کی هم ورته اشاره شوی ده د چرسو بوټی (بنګ) څو زره کلن تاریخ لري او په مختلفو ډولو یی استعمال رواج دي . په نړی کی په دی عمل دوه سوه ملیونو په شاو خوا کی انسانان اخته دي . ولی دا نشه دومره د چا نه خوسیږي .

په نړی کی په مختلفو نومونو یادیري څو مشهور یی (ماریجوانا) او (ګانجا) او چرس دي . زمور په ګران هیواد کی هم دی مضر عادت زیات رواج موندلای دی او

زيات شمير څوانان ، تنكي څوانان ، زاړه او حتى ميرمنى هم وربانډى اخته دي .
څوك يى په سگرټو كى دودوي ، څوك يى په چلم او نورو كى .
لكه چى د مخه مى هم ورته اشاره كړى د لومړي وار لپاره په وحشى (خود رويه) ډول زرغون او بيا وروسته وروزل شو او تكثير شو په امريكا ، افريقا او اسيا كى خود رويه شنه كيږي .
په ستونى او خنجره كى تخريش او په دى سربيره په حنجره كى د سرطان د مرض عامل گرځي .
ولى په عملى ټوگه چى گورو يو شمير يى د روغتيا څخه خلاص كړي دي او حتى ليوني شوي هم دي .
د دى بوټى د پاڼو ، گل ، گرد او شاه دانى څخه په جلا جلا ډول نشى جوړيږي او معتادين لري او هر يو يى په خپله برخه كى زيات تاوانونه لري ، ولى د دى ټولو سره سره بيا هم وربانډى خلك اخته كيږي .
د دى موادو په استعمال سره د انسان طراوت ، ښكلا ، قوت ، حافظه ، جرأت او داسى نور له منځه ځي او كمزورى كيږي . بى اشتهايى ، بى خوبى پيدا كوي او په نهايت كى د انسان څخه يو معيوب او معلول موجود جوړوي چى نه د ځان په گټه شى او نه د ټولنى په درد دوا كيږي .
چرسيان تل لاپوك وي په عمل كى صفر وي دير پراخه صحبت كوي ، ولى د ښه او بد تميز دير كم كولاى شي . ويريدونكى بورنيدونكى ژوند لري او ځوك ورسره د ناستى او ولاړى علاقه نه ښكاره كوي . او افغانى ټولنه كى دغه عمل ننگ دى او د سالم فكر او عقل خاوندان ورڅخه نفرت لري .
په دى عمل باندى اكثرا بى بندو باره ځوانان او تنكي ځوانان عادت كيږي چى اخلاقى معيار يى په ټولنه كى ډير ټيټ وي .
اكثراً ځوانان او تنكي ځوانان د يو شمير بى بندو بارو له خوا دى كارته تحريك او تحريص كيږي او په اصطلاح د ځان ملگري پيدا كوي او په همدى ترتيب يى ورځ په

ورځ معتاد زیاتیږي .

په نهایت کی د دی ناوړه عمل زیات مسوولیت د هغه چا په غاړه دی چی کري یی او قاچاق یی کوي او ټولنی ته یی عرضه کوي . په حقیقت کی د ټولنی دغه قشر د لوی گناه مرتکب گرځي او خورا عظیم خیانت دی . حضرت پیغمبر فرمایي :

« څوك چی نیك عمل او نیك کار رواج کړي نیکه جزا ورکول کیږي او چی بد عمل او بد کارونه رواج کړي د بدو جزأ ته دی منتظر وي »

دغه یو شمیر چی دغه راز ناوړه گټی کوي او د دی لاری څخه د خپلی ټولنی او یا بني نوع لپاره د بدبختی او تباهی اسباب برابروي دغه ټول د دنیوي او اخروي محاسبی او مواخذی سره مخامخ کیدونکي دي .

خدای پاك دغه راز خلك نه بښي څکه چی د دوی دغه ناوړه اعمال د قصد او ارادی څخه سرچینه نیسی او په ډیری بی باکانه او بی رحمانه ډول د انسانانو په ژوند د مادي گټو په مقابل کی لوبی کوي او دا ډیر وحشیانه عمل دی .

زه په دی عقیده یم چی د دی کار د مخ نیوی لپاره په پراخه تبلیغ سربیره دا ضروري گنړم چی خاص قوانین وضع او نافذ شي چی د دی بوټی کرونکي د سختو قانونی سزاگانو مستوجب وگڼل شي او هغه چی په وحشی توگه راشنه کیږي د هغو له مینځه وړلو لپاره هم جدي مبارزه وشي او په داسی وخت کی له بیخه وویستل شي چی تخم یی نه وي پوخ شوی همدا راز یی د تخم په خرڅلاو ، ساتنه منع شي او د دی عمل مرتکبینو ته هم قانونی سخته سزا ورکړ شي او معتادین یی د طبی معالجی او څارنی لاندی ونیول شي .

د دی عمل د مخ نیوی په ضد مبارزه باید د کور ، کوڅی او کلی څخه شروع او ښوونځی ، پوهنځی ، نظامی قطعاتو او جزو تامونو ته ورسیږي په سماوارونو ، پارکونو او ساقی خانو کی په جدي ډول مخ نیوی وشی او که څوك په دی خبره پوری ونه خاندي نو باید لکه د ملخو په ضد چی مبارزه کیږي داسی مبارزی ته سازمان ورکړ شي باور وکړئ چی د دی مرض څخه به زموږ ټولنه خلاصه شي نه به یی اعتیاد

پاتی شي او نه قاچاق . ولی دی خبری ته هم خاصه پاملرنه په کار ده ، که د دی عمل سره سطحی برخورد کیږي زموږ په ناقصو او نیمګړو تدابیرو د نیولو سره د دی مادی ارزښ نور هم زیاتیږي ځکه چی که په عرضه کی یو څه موانع رامینځ ته کیږي بی له شکه ضرورت او تقاضا ډیریږي او قیمت یی لوړ ځي نو بیا هم قاچاقبران په ګټه کی دي او خلکو ته زیات زیان ورسیږي .

دا مبارزه باید د عقیدی ، مذهب او ملی اصولو په رڼا کی تر سره شي . تاثیرات به یی مثبت وي او دا لاره زما په عقیده غوره لاره ده . زموږ په هیواد کی غرنی او قبایلي سیمی لرو ، هغوی یو څه خاص پریکړی او مقررات لري چی موږ او تاسی وربا ندی پوره خبر یو . د مثال په ډول د افغانستان په خاصو سیمو کی دغه بوټی کرل کیږي او استفاده ورڅخه کیږي که د سیمو علماء ، روحانیون د اسلام د مقدس دین له لاری د دغه مضر بوټی کرل ناروا اعلان کړي د اولس بارسوخه مشران وربا ندی ناغی ولګوي او پریکړه وکړي هر څوك چی دغه بوټی وکري د عزیزولی څخه وتلي دي . مېرې او ژوندی ورسره نه کوو تاسی به وګورئ چی د دی تاثیرات څومره او زموږ د دولتی قوانینو د برخورد نتیجه څه ده ؟

بی له شکه د لومړنیو کړنو نتیجه مثبته او ګټوره ده .

نو راځی چی په دی مبارزه کی هر چاته حق ورکړو او د هرچا نه یی د مخنیوی په لاره کی په کلکه مرسته وغواړو او انسان د دی بدبختی څخه وژغورو .

هیروئین :

په دی برخه کی څه مختلفی اصطلاح ګانی دي ولی زه به یی واضح کړم چی عام فهمه شي او هرڅوك په دی خبره وپوهیږي چی دا بده ماده څنګه لاس ته راځي .

خشخاش وری وری دانی دي چی د کوکنارو د غوزی په مینځ کی وي . دا خپله هیڅ کومه نشه نه لري او زموږ په سیمه کی یی لوی او واړه خوري او حتی کله چی دودی پخیري مخکی له دی چی په تنور یی پوری کري دغه دانی وربا ندی اچوي او یو خاص

لذت لري .

د مخه مې ورته اشاره وکړه دغه داني کرل کيږي او د ير ښکلي بوټي ورڅخه زرغونيږي . بزګر يې د خاص نظارت لاندې وخت په وخت ګوډ يا خشاوه کوي ، لويري ښاخونه او څانګې کوي ، بالاخره غوټۍ کوي . غوټۍ غوړيږي سره ، سپين ، بانجاني او داسې نورو رنګونو باندې ګل کيږي . د ګل په منځ کې يوه وړه غوزه ليدل کيږي . دا غوزه ورځ په ورځ وده کوي غټيږي او په نهايت کې پخيږي . کله چې پخه شوه بزګر ورته د اوسپنې څخه خاص الات جوړ کړي چې په اصطلاح (نشتر) ورته وايي . هغه څو غاښونه لري او ډير تيره وي . د هغو په اثر دغه غوزه په عمودي ډول سره زخمي کوي . د غه زخمي کولو په اثر د دغه غوزې څخه سپينې پې راوزي . بيانو ورته صبر کوي چې په اصطلاح قوام پيدا کړي . دغه پې بيا د خاصو الاتو په وسيله راغونډوي او چکۍ ورڅخه جوړوي په دې باندې د افيون نوم ردي او څوك ورته ترياك وايي .

څوك دغه ماده همداسې په خپل اصلي حالت باندې د ځينو ناروغيو د علاج لپاره استعمالوي او ځينې په علمي ډول په طبي دارو درملو کې استعماليږي او موثر ګټه ورڅخه اخيستل کيږي . ولې يو شمير خلك يې د عمل په ډول استعمالوي .

د بده مرغه دغه مادې ته نن سبا په ځينو هيوادو کې د ځانې ګټو او سياسي بهره برداريو لپاره فابريکې جوړې شوي دي . هيروئين ، مورفين او کودين ورڅخه جوړوي او د هيروئينو څخه په خاص ډول نن سبا ځوانه طبقه او تنکي ځوانان د نشو لپاره استفاده کوي او په بې باکانه توګه يې د دود په ډول د خاصو الاتو په وسيله دودوي او ځانونه ورباندې په داسې ډول نشه کوي چې د مرګ کندې ته ورغورځي .

مورفين :

دا ماده د دردونو د تسکين لپاره ډيره موثره ماده او په دارو درملو کې د دې غرض لپاره ورڅخه استفاده کيږي . ولې يو شمير بې بندو باره خلك شته چې دا هم د

نشی لپاره په ځانګړي ډول استعمالوي چی عواقب یی ډیر خطرناك او د تشویش وړ دي . دا ماده هم د لابراتوارونو په وسیله ، د کیمیاوي تعامل څخه وروسته لاس ته راځی . بی له شکه په خاصو مواردو کی څه خاصی ګټی لري ولی په دی ډول چی ځینی خلك ورڅخه کار اخلي د خطر سره بی باکانه لوبی کول دي .

باید وویل شي چی هیروئین د مورفین څخه لاس ته راځي او دغه عملیه یوه کیمیاوي عملیه ده او تر سره کیږي .

د افغانستان د عامی روغتیا وزارت یوه ګرځنده طبی هیئات څو کاله ترمخه د بدخشان د ولایت څخه یو شمیر لاس ته راوړی دی چی په دغه ولایت کی تخمیناً سل زره نفر د تریاکو څخه استفاده کوي . که چیری دغه شمیر په ټولو ولایاتو کی په نظر کی ونیول شي د پنځو وارو نه زیات به وي .

هیروئین په شیمایی عملیه باندی د مورفینو څخه لاس ته راځي د څلورو نه تر لسو پوری د مورفینو نه قوي دي . په متحده ایلاتو کی چی د هیروئینو په مجموع کی د مخدره موادو د مصرف لوی مرکز دی د یو کیلو ګرام هیروئین بیعه ٤٠٠ زره دالرو ته رسیدلی ده . پاکستان چی په سلو کی اویا په جهان کی په لوړه درجه هیروئین جوړوي په جهان کی د هیروئینو لویه منبع پیژندل شوی دی .

هوکی : دا تجارت هرچرته روان دی او د انسان په ضد او د انسان د بقا په ضد دی کارته سازمان ورکول کیږي . په افغانستان پاکستان او نورو ممالکو کی دا عمل په بیره روان دی او د اور لمبی تیتوي او کوشش کوي چی د نړی بی ګناه ځوان نسل ورباندی تباه کاندي او د دی لاری څخه په مادي بهره داری سربیره سیاسی بهره داری هم کیږي . د پاکستان حکومت چی یو اسلامی جمهوریت دی باید په دی لاره کی خپله مبارزه سخته کړي . ځکه چی دا عمل د اسلام مقدس دین دیر غندلی دی .

باید د دی کار مخه ونیسی ولی لکه چی لازمه ده دا کار نه دی شوی او په جرأت سره دا کار کیږي . موږ نه پوهیږو چی دلته سیاسی ګوندونه په خپل وار د دی غیر انسانی او اسلامی عمل په مقابل کی کوم عکس العمل سودلی دی ؟

د لوی خدای په نامه

الحمد لله وکفی والصلوة والسلام علی رسوله المجتبی وعلی اله واصحابه نجوم الاهتداء. امّا بعد : فقد قال الله تبارك وتعالی فی کتابه الکریم :

قدجاءکم من الله نور وکتاب مّبینٌ یّهدی به الله من اتبّع رضوانه سبل السّلام ویخرجهم من الظّلمات الی النّور بأذنه ویهدیهم الی صراطٍ مّستقیم . د مائدی سورت پنځلسمه سپاره .

(صدق الله العظیم)

ترجمه : په تحقیق سره راغلي دي تاسی ته د خدای له خوا نور (رنا) ، (محمد) او د خدای (ج) کتاب (قران) چی هدایت کوي الله په هر یوه سره هغه چاته چی تابع وي د رضا د خدای (ج) لاری د سلامتی نه او وباسی دوی د تیارو د کفر ، شك ، جهل ، څخه نور « رنا » په ارادی خپلی باندي او سمبوونه کوي دوی لاری سمي د « توحید » ته .

که په واقعي دول د دی انسان دښمنه عمل په ضد د سیاسی گوندونو له خوا مبارزی وشی بی له شکه په سیمه دغه اور مړ شي او د دی شر او فساد مخه ونیول شي ، د انسان وژنه گناه ده ولی په داسی تدریجی تعذیب سره د انسانانو وژنه تر لویو لویه گناه او جنایت دی .

که د پاکستان حکومت په دی خبره غور وکړی سوچ ووهی هلی ځلی زیاتی کړی بی له شکه په بین المللی سطح به یی اعتبار لوړ شي او په اسلامی ټولنو کی به خپل حثیثت زیات لوړ کړي . او ورځ په ورځ په دی برخه کی د ځان او سیمی په گټه گټور کارونه تر سره کړي .

یو شمیر بی عاطفی انسانان شته چی د افغانستان په سرحدي سیمو کی یې فابریکی جوړی کړي او لاس ته راغلی مواد یی افغانستان ته صادریږي او همدا راز نورو هیوادونو ته هم روان دي . په صراحت سره باید ووایم چی دا د امریکایی دالرو نتیجه ده چې بیرته خپله د امریکا خلکو ته ورباندی دغه مخدره مواد تهیه کیږي او د بین المللی قاچاقبرانو په واسطه ور وژل کیږي او خپله د امریکا خلك وربانده هم تباه کیږي . دلته راته د هغه شاعر شعر را په یاد شی . چې وایی :

به لوح مشرب پروانه این سخن دیدم ،
که آتشی که مرا سوخت خویش را هم سوخت .

که له یوی خوا بین المللی اسعار او قاچاقبران د خلکو د ژوند سره لوبې کوي ولی د بلی خوا دغه دالرو منفی اثرات د دی لاری څخه خپله د امریکا خلك هم بی برخی نه دي پریسی . دا اور ورځ په ورځ سرایت کوي او خپله وربانده سوزیږي ارمان به وکړي ولی وخت به تیر وي .

وایی (چاه کن در چاه) پرځای خبره ده او د تل لپاره یی صدق پیدا کړی دی ، او همداسی شوی ده او کیږي .

د پاکستان خلك هم په اکثریت دو ل د دې نشه یی موادو د استعمال سره لاس په گریوان دي ولی داسی ماده پرست وگړي شته چې دې ناوره عمل ته یی ملا ترلی ده او

د خپل خیر او شر لاری فرق نه کوي چی د دی بدبختیو اخر د افغانستان او پاکستان د خلکو بنیادي زوال بللای کیږي او اولسونه په همدی ډول له منځه ځی .

په کوم اولس کی چی بد اخلاقي ، فساد او بی عدالتی اوج ته رسیږي خپله له منځه ځي . هغه ورځ لری نه ده چی د پاکستان او افغانستان شریف مسلمان اولس به د دغه ډول اعمالو په اثر د بدبختی په کندو کی غرق او تباه شي .

کوکین :

دا ماده ډیره خطرناکه ماده او د مخدره موادو یو ډول دی او په شیمایی وسایلو د کوکنارو د پانو څخه لاس ته راځي . د غربی نړی د جمعی اطلاعاتو د رپورتونو په استناد د امریکا متحده ایالاتو د اتو ملیونو اتباعو په شاوخوا کی په وقفه یی توگه او د دی شمیر نه په منظم دول د یو ملیون کسانو په شاوخوا کی د کوکاین په استعمال اخته دي .

د هغه څیړونو په نتیجه کی چی د روغتونو څخه لاس ته راغلی دي په سلو کی یوولسو میندو اعتراف کړی دی چی د بار په وخت (حامله گی) کی یی د کوکاینو څخه استفاده کړی ده که دا شمیر (فیصدي) د امریکا د متحده ایالاتو باردارو ښځو کی محاسبه شي نو په کال (۱۹۸۹) ، (۲۷۵,۰۰۰) امریکایی ماشومانو پخوا تر دی چی دنیا ته راشي د کوکاینو د یوی اندازه څخه یی استفاده کړی ده .

د امریکا د نیوزیك د مجلی په قول چی په ۱۹۸۹ کال ۲۸ گنه کی نشر کړی دی « کوکاینو په ضد د امریکا د مبارزی احصایه د ویتنام د جنگ څخه پراخه ده »

د امریکا د خارجه چارو وزیر جیمز بیکر د ۱۹۸۹ د مارچ په میاشت کی اعتراف کړی دی چی موږ د مخدره موادو سره په جنگ کی بری په لاس نه دی راوړی . د امریکا متحده ایالاتو پخوانی جمهور رئیس جورج بوش وویل (مخدره مواد دیر سخت کورنی تهدید متحده ایالاتو ته متوجه کړی دی) رقم ښکاره کوي چی امریکا د مخدره موادو دیر لوی مصرف کوونکی هیواد دی چی په سلو کی شپیته یوازی په

امریکا کی مصرفیږي .

په امریکا کی په مخدره موادو باندی اخته کسان د دولسو څخه تر شلو کلنیو پوری عمر لري . په داسی حال کی چی په دی عمل اخته کسان په غربی اروپا کی د اتلسو څخه تر پنځه ویشت کلنی پوری عمر لري .

نو راځئ قضاوت وکړئ چی د داسی تولنی راتلونکی به څه وي ؟ او د دغه ځوان نسل څخه به د هیواد په عمران کی څه ګټه واخیستل شي ؟! او دا خیانت څوك کوي ؟

زه باور لرم چی د بصیرت خاوندان به ووایی چی دا ګناه خپله د هیوادونو پیسه پرست او انسان دښمنه خلك کوي . چاته دالر ورکوي ، قاچاقبران روزي ، او هغوی وربانډی دغه تجارت ته سازمان ورکوي .

زه د امریکا د خلکو د کانګرس پریکړو ته حیران یم همدا راز د خلکو د استازو پریکړی د تعجب وړ دي چی د خپلو خلکو لپاره د خپلو بچو لپاره په خپل لاس قبرونه کني ولی دالر پری سربیره ورکوي نو هغه اصطلاح ده وایی « دواړه دی خرابی شه » په دوی هغه توکه کیږي . د امریکا د متحده ایالاتو موظفو مامورینو د یوی څیړنی په نتیجه کی چی ۱۹۸۸ کال د می په میاشت کی د فلوریدا په ایالت کی تر سره کړه د کوکاینو څلویښت زره ضدو قوتو ذخیره چی د کوکاینو څخه ډکه وه او په یوه بله څیړنه کی ٤ / ۲۱ تنه د کوکاینو ذخیره د (۷ / ٦) ملیونو دالرو په ارزش کشف کړه دا هغه لور رقم دی چی په متحده ایالاتو کی د مخدره موادو خطرناك قاچاق ښکاره کوي .

نو راځئ قضاوت وکړئ کله چی د امریکا په متحده ایالاتو کی د مخدره موادو د استعمال او قاچاق وضع په دی حال وي ایا دا سوال نه پیدا کیږي چی ولی د متحده ایالاتو حکومت د مخدره مرداو د هغه قاچاقبرانو په باب چی خپله د امریکا خلك دی چوپ پاتی کیږي ؟

خبره روښانه ده او هغه دا چی حکومتی مشران یی خپلی میلی کوي پیسی پیدا کوي اوبه خړوي او ماهیان نیسی نه د امریکا د راتلونکی غم وړي دي او نه یی د

ځوان نسل بدبختیو دایی ښکاره ثبوت دی چی خپله د امریکا مشران او د جمعی اطلاعاتو له خوا خپریږي .

باور دی چی راتلونکی به دی سوال ته ځواب ووایی ، د واشنګټن تایمز د ورځپانی له وروستیو خپرونو څخه داسی ښکاري چی د پیښور او افغانستان په سرحدي سیمو کی د مخدره موادو تولید او خرڅلاو په لویه پیمانه روان دي یوی خوا او بلی خواته د قاچاق په ډول ورل کیږي .

داسی ښکاري چی د امرکیا د متحده ایالاتو رهبران به د امریکا د خلکو د فشار له امله مجبور شی چی په افغانستان ، پاکستان او نورو سیمو کی به د موادو د تولیدوونکو او قاچاق ورونکو سره یو ډول برخورد وکړي . مطلب دا چی د دی عمل د مخنیوی لپاره به په بنیادي دول اقدام وکړي ، ولیدل شی چی د امریکا رهبران په دی عظیم کی ترکومه رستینی دي او که دایې هم د دروغو سیاست مداري او خلکو ته دوکه ورکول دي .

PROPERTY ACKU

ماندرکس :

دا د یو ډول کپسولونو په دول جوړیږي . اصل هدف یی د ځینو حالاتو لپاره په ناروغیو کی استعمال وو ، ولی په دی وروستیو وختو کی دغه کپسول د درملو له قطاره ویستل شوي دي ، ځکه چی د خلکو د اعتیاد سبب ګرځیدلي دی ، او ناوړه نتایج یی ورکړي دي . بی له شکه دا هم د مخدره موادو په ډله کی راځي او استعمال یی مضر او غیر مداوایو عمل دی چی په دی اساس درملو له قطاره وویستل شو .

د دی مادی استعمال په دی وروستیو وختو کی زموږ په هیواد کی زیات شوی دی ، او دیر خلك یی د ژوند د بدبختیو سره مخامخ کړي دي . او حتی تر هغه ځایه چی زه ورباندی خبر یم یو شمیر یی د دی مادی د زیات استعمال په اثر لیونی کړی هم دي چې البته علاج یی هم نه دی شوی .

که په لنډ ډول باندی په دی برخه کی قضاوت وشي دی نتیجی ته ورسیږو چې اصلاً په عمده ډول دیر خطرناك یی دوه مادی دي چی یویی چرس او بل یی تریاك ، او دا نور رقمونه یی د همدی دوه مادو ځخه د کیمیاوي عملیاتو په نتیجه کی چی په لابراتوارونو کی تر سره کیږي دنیا لاس په ګریوان ده او په جهانی سطح د دی پرابلم د حل لاره ورځخه ورکه ده .

زه خپله په دی عقیده یم چی په دنیا کی هیڅ یو داسی مشکل او پرابلم نشته چی د حل لاره ونه لري ، ولی د انسانانو ثبات او قاطع برخورد ته ضرورت لري .

د مثال په ډول امریکا ځنګه کولای شي چی راز راز انسانان وژونکي سلاح ګانی جوړی کري او خلکو ته د یو بل د وژنی لپاره وسپاري ؟ امریکا ځنګه په ملیاردو دالرو د انسانانو د وژنی لپاره په یو ځای او بل ځای کی مصروفولای شي ؟ همدا راز د اسرائیلو او داسی نورو سره د انسان وژنی لپاره مرستی کولای شي او د څو تنو قاچاقبرانو مخه نشی نیولای داسی بریښي چی دی کار ته اصلاً اراده نه لري او که اراده وکړي تر هرڅه ساده کار همدا دی .

زه بیا هم خپله دا خبره تائیدوم او وربانډی تینګار کوم چی په هر کار کی تر هرڅه د مخه ثبات ضروري او کله چی د ارادی سره قوي عزم او ثبات ملګری شو په دنیا کی هر کار ممکن او کیدونکی دی او نتیجه یی هم مثبته او ګتوره ده ، ولی د په قوي عزم او ثبات په رڼا کی . زه باور لرم که د نری تول انسانان د خپل ځان د بقأ لپاره قوي عزم او اراده ملا وتړي نه یوازی دا چی د مخدره موادو سره د مبارزی په لاره کی به پوره پوره بریاوی تر لاسه کري تر دی لا پرته د تسلیحاتی مسابقو د مخ نیوی په لاره کی به هم د پوره پوره بریاوو سره مخامخ شي او د ځان د بقا او مطمین او داده

ژوند لپاره به نه هیریدونکی کارنامی پریږدي .
که دا غولوونکي تبلیغات او هسی د خولی خبری وي او کاغذونو تورول نو د مخدره موادو مخ نیوی نن سبا څه ساده کار نه دی او د دی اور وژنه صرف د خولی په اطفایو نه وژل کیږي .

دا چی د امریکا د متحده ایالاتو د باندنیو چارو وزیر جیمز بیکر وایی (چی موږ د مخدره موادو سره په جنګ (مبارزه) کی بری تر لاسه کړی نه دی) ساده خبره نه ده . همدا راز د امریکا د نیوزیك د مجلی په قول چی په ۱۹۸۹ کال ۲۸ ګنه کی خپره کړی ده چی « د کوکاینو په ضد د امریکا د متحده ایالاتو د مبارزی اندازه د ویتنام د جنګ څخه پراخه ده » د دی نه اټکل کولای شو چی ایا د دی کار په ضد مبارزه ساده کار دی ؟ ځواب یی یوازی او یوازی دا دی چی هوه‌ولی ثبات او ګډه بین المللی مبارزه غواړي .

د مخدره موادو د کښت لپاره
د بزگرانو تشویق

لری به نه ځو په خپل هیواد کی به دا موضوع وڅیړو د مخدره موادو کښت یعنی د خشخاش او چرسو کښت د ننگرهار ، لغمان ، کونړونو ، بدخشان ، کندز ، مزار او داسی نورو ولایاتو کي رواج دی ، او په عمومی ډول یی هغه خلك کري چی ځمکه یی کمه وي . که غنم دانی په کی وکري دومره حاصل په لاس نه ورځی چې د ده کلنی مصرف پوره کړي نو د دغه موادو کښت ته زړه ښه کوي او کري یی ، که له یوی خوا د دوی خپله میلان هم وي ولی ورسره ورسره د دی موادو حرفوي قاچاقبران هم د کمو ځمکو خاوندان دی کار ته تحریك او تشویقوي او حتی بیشکی پیسی هم ورکوي ترڅو دغه کار وکړي .

تاسی ته بهتره معلومه ده چې د دغه ډول قاچاقبرانو په تجارتی بازارونو کی د خامو تریاکو قیمت د پنځو نه تر اوولسو وارو پوری د غنمو څخه زیات دی چی په اوسط یی محاسبه وکړو د تریاکو د کښت هر هکتار له (۱۸۰۰) دالرو څخه زیاته ګټه لري ولی په غنمو کی دغه رقم لاس ته نه شی راتللای نو بی له شکه بزګر هغه څه کوي چی زیاته ګټه ورڅخه اخلی . تحریك هم ورپسی دی او تشویق هم روان دی نو بی له شکه بزګر هغه څه ته زیاته هڅه کوي چی دیر مفاد په لاس ورځی ولی عواقبو ته یی توجه نه کوي .

د لودیز المان یوه ورځپانه لیکی : په پاکستان کی یو کیلو درجه اول هیروئین په عمده دول په (۱۳۰۰) دالرو خرڅیږي . په دغه اندازه او په همدی صفت د لویدیزی اروپا په هیوادونو کی په (۱٦۰۰) دالرو خرڅیږي .

په کومه اندازه چی د مخدره موادو قیمت او ارزښت لوړ ځی په همغه پیمانه یی تولید هم زیاتیږي . پاکستان په سلو کی اویا د ټولی نړی هیروئین جوړوي ، په همدی دلیل د پاکستان په خاوره کی په سل هاوو لابراتوارونه موجود دي چی د هغی جملی څخه د افغانستان د سرحدي سیمو په اوږدو کی هم وجود لري او د هیروئینو د جوړولو فعالیت کوي .

که څه هم په ګران هیواد افغانستان کی د جنګ جګړی له امله د مخدره موادو د کښت ساحه لکه څرنګه چی لازمه ده نه ده ثابته ولی په تخمین ډول ویلای شو چی (۳۱۰۰۰) هکتاره ځمکه به کرل شوی وي چی د یو جریب حاصل یی ۸ / ۱۲ کیلو ګرامه تخمینیدلای شی . په سلو کی څلویښت د تریاکو محصول یوازی د هلمند د ولایت د تریاکو د کرل شوی سیمی څخه په لاس راځی .

زیاته برخه د موسی قلعه ، کجکی ، باغران ، نوزاد ، سنګین ، ناد علی ، ګرمسیر ، نهر سراج او د ناوی ولسوالیو ځمکی چی تر دی د مخه په کی لوبیا ، غنم اوربشی جوار او نوری ډول ډول میوی کرل کیدلی اوس یی بس د کوکنارو کروندی ګرځیدلي دي .

په همدې ډول د لسو زرو هکتارو ځمکې د ننګرهار د ولایت مربوط مهمندرې ، شینوارو ، خوګیانو ، حصارك اولسوالیو او د کونرونو د ولایت په مربوطاتو کې او د شپږو نه تر لسو زرو هکتارو ځمکې په اندازه د بدخشان د ولایت د کشم ، جرم ، بهارك ، یفتل او شغنان په اولسوالیو کې د مخدره موداو دغه کښت کرل کیږي .

د بنګو بوټې یې له هغو سیمو نه چې زیاتې سړې وي لکه بامیان ، غزنې ، بدخشان او داسې نور د هیواد نه په ټولو ولایاتو کې په مختلفو پیمانو کرل کیږي .

په هغه سیمو کې چې اقلیمي وضع یې د کابل د ولایت په شان وي د دې مادې کرکرونده د حمل د میاشتې په اوایلو کې کیږي او د میزان په میاشتو کې پخیږي د دې بوټې د خام حاصل اوسط په یو جریب ځمکه کې د شلو تر پنځوسو کیلو ګرامو پورې رسیږي چې د د یو جریب حاصل ګټه یا عاید یې سلو زرو افغانیو ته رسیږي .
په دې خبره باید تاکید وشي چې د دې کار اصلي او بنیادي عامل زموږ په ګران هیواد افغانستان کې جنګ دی او بس .

که چیرې خیریه بین المللی سازمانو د کم ځمکو خلکو سره مرستې وکړي او د هغوی د ژوند تامین په غرض موثرې لارې چارې ولټول شي . زما په عقیده چې دا کار هم بې تاثیره نه دی اود بزګرانو په اراده کې به یوڅه تاثیر پریږدي او د حرفوي قاچاقبرانو په لمسونه به د انسانانو د ژوند د تباهۍ لپاره دغه کرکرونده ترك کړي او د دې پرځای به غنم ، جوار ، اوربشې او نورې میوې او حبوبات وکري او د خپل ژوند نیمګړتیاوې به وربانډې پوره کړي . له یوې خوا به خپل انساني فرض ادا کړي او له بله پلوه به شریفانه ژوند وکړي .

که بین المللی کومکونه په دې لاره کې مصرف شي پروژې جوړې شي فابریکې جوړې شي د دغه ډول خلکو د پاره خاص مصروفیتونه پیدا شي او دا تشویش به ورك شي دا دې علمي لارې چارې ولې خاصه توجه ورته ضروري ده .

په بین المللی سطح د مخدره موادو قاچاق

نن سبا د مخدره موادو قاچاق ټوله دنیا د خطر سره مخامخ کړی او هغه خلك چی ټولنیز مسوولیت لري په دی برخه کی زیات اندیښمن دي او هلی ځلی کوي تر څو د دی سوزوونکی او انسان تباه کوونکی اور مخه ونیسي .

د مخدره موادو قاچاق او ویش په ټولنه کی بین المللی شوی دی سربیره پر دی چی د افغانستان او پاکستان سرحدي سیمو کی تولیدیږي او د ترانزیت په شکل لویدیځ ، اروپا او امریکا ته ځي د قاچاقبرانو شبکی او کانالونه په کولمبیا ، برما ، تایلند ، هانگانگ ، استرلیا ، اندونیزیا ، مالیزیا ، نوی زیلاند او نور هیوادونه د مخدره موداو په دی لوی تجارت باندی اخته دي ، او دا هیوادونه د مخدره موادو د قاچاق په بین المللی ترانزیت مارکیټونو بدل شوي دي ، دا واقعیتونه د دی څرگندوی دي چی د مخدره موادو د قاچاق او استعمال په ضد د بریالی مبارزی یوازینی لاره د بین المللی همکاری تامین دی او بله لاره نه لري .

ما د مخه دی هم خبری ته اشاره کړی که د سیمی او منطقی هیوادونه او په نهایت

خبره دا ده چې خدای (ج) خپل مخلوق ته استاذی رالیږلي دي او د هغوی سره صحایف او کتابونه وو او خلکو ته یې د حق تبلیغ کړي سمی لاری یې ورته په گوته کړی دي او د ښو بدو لارو عواقب یې ورته څرگند کړي ، د شك او تردد څخه د خلاصون لارې ورته ښودل شوي دي گټې او ضررونه هم ورته ښکاره شوی دي . نو کله چې دوی په هغو عمل نه دې کړی او شایی ورگرځولې ده نو بیا وروسته تر هغی یې قومونه هلاك کړي دي لکه د مثال په ډول :

عاد ، سمود او لوط علی نبیّنا علیه السّلام قومونه انبیاؤ او پیغمبرانو خپل وجایب د دوې په مقابل کی تر سره کړي دي ولی دوی ورته غوږ نه ایښود نو خدای ورسره دغه ډول چال چلند وکړ او هلاك یې کړل .

خدای پاك (ج) د قران کریم په یوه بله برخه کسي فرمایلی دي . او د ترجمی لنډیز یې داسې دې :

« زه یو قوم تر هغی نه نیسم تر څو ورته کتاب او پیغمبر ونه لیږم » .

البته کله چې پیغمبر ورشي او الهی احکام ورته ابلاغ شي او سره له دی هم بیا نافرمانی کوي نو د داسی خلکو سره بیا مؤاخذه او محاسبه ترسره کیږي او د خپل عمل سزا هرومرو گوري او دا د خدای امر دی او تر سره کیږي .

حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د اسلام ستر پیشوا او د خدای وروستی استاذی د خدای (ج) له پلوه ټول عالم بشریت ته د رحمة للعلمین په صفت مبعوث شوی او آسمانی کتاب (قران کریم) په دی نازل شوی دی او د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم له خوا او د دوی د پیروانو له خوا په خپل وخت او د دوی د وارثانو له خوا (علماء) تردی وخته پوری او لا تردی وروسته نهی عن المنکر او امر بالمعروف روان دی او دا لړی به روانه وي او علماو کرامو په دې برخه کی خپل رسالت او وراثت تر سره کړي او تر سره کوي یی .

قرانکریم امر کوي فرمایی « ما اتکم الرسول فخذوه وما نهکم عنه فانتهوا » هغه څه چې تاسی ته پیغمبر په کولو امر کړی دی هغه وکړی اود کوم شی څخه یی چی منع

کی په بین المللی سطح د دی کار د مخنیوی لپاره اساسی لاره غوره شي او په ګډه سره ورته ملا وتړل شي او سیاسی ملحوظات له نظره لري شي په دی کی شك نشته چی دا مشکل ډیر ښه حل کیږي او بیا به څوك په اصطلاح د دارو لپاره هم مخدره مواد پیدا نه کړي .

بی له شکه مافیان د مخدره موداو قاچاق د سرحدونو له لاری او یا د بین المللی ترافیکو له لاری هرځای ته رسوي یا خو دا ده چی د دی خلکو د تللو راتللو په وخت کی د دوی په تلاشی کی دقت نه کیږي او یا ورسره رابطه وجود لري او همکاری ورسره کوي چی دا دواړه احتمال شته ولی وروستی تخمین واقعیت ته نږدی دی او دا لیدل شوی ده چی سازش موجود دی . په داسی حال کی چی دغه نیمګړتیا وجود لري دا سازش هم په ټیټه سطح نه دی بلکه په دی کار کی د دولتونو او هیوادونو مسوول خلك او یا په مسوولو خلکو پوری تړلي اشخاص لار لري .

نو په دی اساس بیا هم دا معضله لاینحل پاتی کیږي ځکه چی په اصطلاح کلیدی ځایونه او پوستونه د داسی خلکو په لاس کی چی اکثریت خپله په دی مرض اخته خلك دي هغوی خپلی ګټی لټوي نه د خلکو په غم کی دي او نه د وطن نه د سیاست پروا لري او نه د بین المللي موقف او حیثیت . په دی کی شك نشته چی وخت او زمانه به هرڅه هرومرو د دی دول خلکو سره حساب وکړي او یو حکم ته به کینی ولی دا چی کله به وي ؟ په دی زه هم نه پوهیږم .

خو په دی باب زما اټکل دا دی چی دا کار نن هم کیږي او سبا هم خو په دی شرط چی د دی مبارزی لپاره بین المللی یووالی منځ ته راشي . کله چی دا کار وشو نو په اصطلاح غل غدو بیا په داسی ټولنو کی چی د یووالی په مزو سره وتړل شي ژوند نه شي کولای نو هرومرو خو به د محاسبی په ټغر راسره کینی او خلکو ته به ځواب ورکوي محاکمه کیږي به اود خپل دغه انسانی ضد او اسلامی ضد عمل سزا به ګوري دا علم دی او دا تجویز علم منلی دی هغه بری چی په یووالی او اتحاد کی دی په انفرادي دول لاس ته نه راځي . داسی عمومی او جهانی پرابلمونه په عمومی او جهانی اتحاد او یووالی سره د حل لاره پیدا کولای شي .

په ځينو هيوادو کی د مخدره موادو د استعمال فيصدي

تر ټولو د مخه زموږ په ګران هيواد افغانستان کی په مخدره موادو باندی د اخته وګړو شمير داسی ثابت معلوم نه دی ، ولی په تيرو کلونو کی د عامی روغتيا وزارت يو واکمن هيئت د بدخشان ولايت ته تللی و او د هغه کسانو شمير چی د ترياکو په عمل اخته دي . د سلو زرو تنو په شاوخوا کی و او که په په دی ترتيب دا رقم په ټولو ولاياتو کی په نظر کی ونيول شي نو د پنځو وارو څخه به هم زيات شي .

زما په عقيده د ترياکو استعمال په اصلی بنه (ترياك) د افغانستان په ځينو ولاياتو کی په خاص ډول زيات استعمال لري . ولی په ځينو نورو ولاياتو کی يی استعمال ډير کم او په فيصدي لحاظ نه مقايسه کيږي د مثال په ډول کنرونه ، لغمان ، ننګرهار ، پکتيا او داسی نور ، ولی د هيروئينو په ډول يی استعمال بيا په سرحدي ولاياتو کی په زياته پيمانه ليدل کيږي او معتادين يی ورځ په ورځ زياتيږي په خاص

ډول ځوانان او تنکي ځوانانورباندی معتاد دي او شمير يی زياتيزي . په مجموع کی د مخدره موادو لکه چرس ، هيروئين ، کوکاين که په د قيقه توګه احصائيه ترلاسه شي نن سبا اکثريت د هيواد ځوانه طبقه په دی مرض اخته ده او که کله دقيقه احصائيه واخيستل شي کيدای شي چی فيصدي يی هم تثبيت شي .

د ځينو رپورتونو له مخی چی غربي مطبوعات يی خپروي په وقفوي ډول د امريکا د متحده ايالاتو ، اته مليونه اتباع د مخدره موادو معتاد دي او د دی جملی څخه د يو مليون په شاوخوا کی په منظم ډول کوکاين استعمالوي .

د هغه څيړنو په اثر چی د امريکا متحده ايالاتو د روغتونونو څخه لاس ته راغلی دي په سلو کی يی يوولس ميندو اعتراف کړی دی چی د حاملګی په وخت کی يی د کوکاينو څخه استفاده کړی ده .

که چيرته دغه فيصدي د امريکا ټولو حامله ښځو ته نسبت شي نو يوازی په ۱۹۸۸ کال کی (۲۷۷ ۰۰۰) په شاوخوا کی امريکايی ماشومانو (نو زادانو) چی دنيا ته راغلي دي د کوکاينو څخه استفاده کړی ده .

ارقام ښيی چی د مخدره موادو ډير ستر مصرفوونکی هيواد د امريکا متحده ايالات دي چی په سلو کی شپيته د ټولو مخدره موادو يوازی مصرفوي چی واقعاً دا ډير لوی رقم دی . د دی خطرناك مرض معتادين په امريکا کی د دولسو او اوولسو کلونو ترمنځ ځوانان او تنکي ځوانان دي . ولی په غربی اروپا کی د دی موادو معتادين اتلسو او ۲۵ کلونو په منځ کی ځوانان دي .

د امريکا د متحده ايالاتو په يو ايالت فلوريدا کی په ۱۹۸۸ کال د ۴۰ زرو د لرګيو د صندوقونو زيرمه کشف شوه چې د کوکاينو څخه ډك وو او همدا راز يو بله زيرمه چی ٤ / ۲۱ تنه کوکاين په کی ځای په ځای شوي وو کشف شوه چی ۷ / ٦ مليونه دالر بيه يی درلودله چی دا محاسبه په ډاګه کوي چې په متحده ايالاتو د مخدره موادو تر بل هر هيواد زيات دی .

په کولمبيا ، برما ، تايلند ، هانګانګ ، استراليأ ، اندونيزيا ، ماليزيا او نيوی

زیلانډ یی مرکزونه دي او مخدره مواد په کی مصرفیږي چی چرته په یوه پیمانه او په ځینو کی په بله پیمانه مصرفیږي چی ثابته فیصدي احصائیه زموږ په لاس کی نشته همدا راز په پاکستان او افغانستان کی هم مخدره مواد په یوه اندازه مصرفیږي .

په مجموعی ډول ویلای شم چی ډیر کم هیوادونه به وي چی د دی مرض څخه به په قسمی ډول خلاص وي او که نه دا مرض (د مخدره موادو) ټوله دنیا نیولی ده او ورځ په ورځ دا وژونکی مرض زیاتیږي او یو شمیر زیات مافیان ورته په بین المللی سطح لمن وهي .

د مخدره موادو استعمال ورځ په ورځ زیاتیدونکی دی . څومره چی یی کر کرونده زیاتیږي په همغه پیمانه یی تولید زیاتیږي ، استعمال او قاچاق یی هم اوج ته رسیدلی دي چی دا کار د زیاتی اندیښنی وړ دی .

همغه خام مواد چی د افغانستان په ځینو سیمو کی لاس ته راځی په سرحدي سیمو کی د ځینو بین المللی حرفوي قاچاقبرانو له خوا ورته فابریکی جوړی شوي دي . لابراتوارونه نصب دي په پخو موادو یی بدلوي او جهان ته یی صادروي او دا لړی په دیره بیره روانه ده او ورځ په ورځ انکشاف کوي که دا حال وي نو باید په دی خبره باور وکړو چی ډیر ژر به د دی خبری امکان هم د تهدید سره مخامخ شی چی څرنګه مبارزه باید وشی ؟

اوس لا هم وخت نه دی تیر او باید په ګډ هاند او مرسته د دی وژونکی مرض د مخ نیوی لپاره سر سختانه مبارزه وشی او انسانان د بدبختیو څخه وژغوړل شي .

د مخدره موادو په ضد بین المللی هلی ځلی

موږ باید دا خبره ونه کړو او نه په دی عقیده اوسو چی گوندی ټول انسانان او ټولی انسانی ټولنی د دی ناروا کار سره توافق لري او د مخ نیوی لپاره یی کوم موثر اقدام نه کوي ، نه داسی نه ده ، زموږ په دی ایمان او باور دی او عملاً ثابته ده او مبارزه روانه ده چی د نړی اکثریت بااراده انسانان ، اجتماعی سازمانونه خیریه موسسی په دی لاره کی په مادي او معنوي دول هلی ځلی کړي او په بین المللی سطح د دی انسان وژونکی مرض د ورکاوی لپاره کار روان دی او ورځ په ورځ انکشاف او پراختیا مومی .

یو شمیر محدود انسانان دی چی ځوک د سیاسی بهره برداریو او ځوک د مادي گټو لپاره په دی عمل بوخت دي . د مخدره موادو په تولید ، خرڅلاو او قاچاق باندی اخته دي . د دی واقعیت څخه انکار نه شی کیدلای چی مخدره مواد یوه عظیم او طوفانی سیلاب دی چی د ټولی نړی انسانان ورسره لاس په گریوان دي او سربیره پر دی چی

معتادین یی د انسانی ټولنی په اوږو بار دي . ټولنه یی د ډیر سخت اقتصادی ، صحی ، اجتماعی خطر سره مخامخ کړی ده . بین المللی ټولنی دي چی د همدی ضرورت له امله یی کنوانسیونونه جوړ کړل او تصمیم یی نیولی دی تر څو د مخدره موادو په تولید ، قاچاق او غیر مجاز استعمال په ضد مبارزه وکړي .

د همدی اصل په بنا د لومړی وار لپاره د مخدره او سایکو ترافیکی موادو د کنترول په باب په ۱۹۰۹ - ۱۹۱۲ تر ۱۹٦۱ او ۱۹۷۱ کلونو پوری بین المللی تړونونه لاسلیك شول . وروسته په ۱۹۸۸ کال دا کنوانسیون تسوید د همدی کال د نوامبر په ۲۵ نیټه د نړی (۱۲٦) هیوادو څخه زیات د پنځوسو اختصاصی انجمنونو او سازمانونو په ګډون رسماً په ویانا کی تائید شو چی د افغانستان جمهوری دولت لومړنی هیواد و چی دغه کنوانسیون یی تائید او لاس لیك کړ .

د ۱۹۸۸ د کنوانسیون په اهدافو کی مهم مطالب وو لکه بین المللی همکاری د غیر مجاز کر کروندی له منځه وړل ، په مخدره موادو باندی د طبی مشتقاتو تبدیلول ، د اختصاصی کادرونو روزنه او سمبالول ، عدلی متقابله همکاری ، د هغه مجرمینو قانونی استرداد چی د مخدره موادو په قاچاق او کر کرونده باندی متهم وي . همدا راز د مخدره موادو د جرمی اعمالو د مجازاتو د ټرنګوالی په باب یو څه خاص مقررات وضع شوي .

سره له دی چی زموږ په ګران هیواد کی سیاسی ، نظامی وضع کړکیچنه ده او په خپل منځ کی سره په جنګ اخته شوي ولی سره له دی هم یو وار د دی خبری یاد کوم چی د (۱۳۵۷ - ۱۳٦٦) کال پوری په مجموعی ډول ٦٦۷ / ۲۲۸ تنه مخدره مواد چی بیه یی د اوو ملیاردو دوه سوه ملیونه افغانیو څخه زیاتیږي د (۱۹۱۲) تنو متهمینو په ګډون کشف او نیول شوي دي . چی دا رقم زموږ د ملی او اسلامی مبارزی مثبته نتیجه ښکاره کوي . په دوه تیرو کلونو یعنی ٦۷ - ٦۸ کی (۱۹٤۷٦) ګرامه او په روان کال کی تر اوسه پوری (۷۱۵ ، ۱۰۲۸) ګرامه مخدره مواد کشف او ضبط شوي دي .

د ۱۳۷۰ کال په شپږو لومړیو میاشتو کی د شبرغان په ولایت کی د کوکنار ۹۵ جریبه کرونده او سل جریبه کرونده چرس ، د پکتیا په ولایت کی ۹۰ جریبه د چرسو کرونده د پنځوس ملیونو افغانیو څخه په زیاته بیه ، د بلخ په ولایت کی ۱۱۰ جریبه د چرسو کرونده او د سمنگانو او کندز ولایاتو کی پنځلس جریبه کرونده ۳۰ جریبه کرونده چرس او (۵۱۷۹۹۹) بوټی چرس د بدخشان په ولایت کی ، د ننگرهار په ولایت کی ۳۰ جریبه د چرسو کرونده ، د فاریاب په ولایت کی شل هکتاره د چرسو او یو هکتار د کوکنارو کرونده له منځه وړل شوی ده .

همدا راز د ننگرهار په ولایت کی (۳۵۰ ، ۵٤) کیلو گرامه تریاك (۳۳۰۰) کیلو گرامه چرس په بغلان ، (۱۲۸) کیلو گرامه چرس په کندهار ، (۸۰) کیلو گرامه تریاك او (۲٦) کیلو گرامه چرس د بلخ په ولایت ، او (۸۰۰ ، ۲۱) کیلو گرامه مورفین د هرات په ولایت کی کشف او ضبط شوي دي .

د پورتنیو ارقامو څخه په حرگند ډول معلومیدای شی چی د افغانستان جمهوري دولت په خپل وار په دی مبارزه کی تر هرڅه مخکی دی . د دولتی عالی کمیسیون تشکیل او جوړول چی دولتی لوړ رتبه اشخاص په کی برخه لري په ولایاتو کی هم د والیانو تر ریاست لاندی د همدی لپاره کمیسیونونو ایجاد د مخدره مواد په ضد د افغانستان جمهوري دولت د بی امانه مبارزی څرگنده نمونه ده .

عالی کمیسیون د مخدره موادو د مولدینو او قاچاقبرانو مجازاتو د سختوالی په منظور په هیواد کی د حقوقی او تقنینی سیستم د اکمال او یووالی په منظور یو معتبر سند « مخدره موادو د تولید ، قاچاق او استعمال یی په ضد ملی مبارزه » په نوم تصویب کر چې د خاص حقوقی ، سیاسی تولنیز اهمیت څخه برخورداره دی .

له دی امله چی مخدره مواد د یو نړیوال پرابلم په حیث په اجتماعی او اقتصادي برخو کی ستونزی رامنځ ته کړي دي نو (۱۳۲٦) کال د قوس د میاشتی نافذه اصولنامه چی د تریاکو د کښت ، تجارت او استعمال لپاره په څلورو مادو کی تنظیم شوی او همدا راز د دلوی دیرشمی نیتی ۱۳٤۸ کال د قاچاقو د مخنیوی د قانون انفاذ

په اوسني حالت کې زموږ د ټولنې ضرورتونه نه شي تر سره کولای نو له دې امله د مخدره موادو په ضد د مبارزې د اختصاصي قانون لومړی طرح جوړه شوه او د قانون سند په حيث يې خپل مراحل طی کړل . په دې سربيره عالی کميسيون پريکړه کړی ده چې د هيواد په تعليمي او تحصيلي موسساتو په درسي پروګرامونو کې هم بايد د مخدره موادو د استعمال او قاچاق ناوړه اثرات ځای او تدريس شي . د هيواد په ښوونځيو ، پوهنتونونو کې زيات شمير سيمينارونه او کنفرانسونه داير شي او د مخدره موادو په ضد او د مخدره موادو په ضد د مبارزې ګتور علمي لارې چارې ولتول شي . علماء ، روحانيون ، قومي مشران او سپين ږيري ، د طب داکتران د کرهنی متخصصين هم په خپل وار په دې لاره کې هلې ځلې کړي .

همدا راز د رواني روغتيا د رضا کارانو انجمن د يو غير دولتي سازمان په توجه په داوطلبانه ډول د ځوانانو ، محصلينو ، استادانو او د ټولو اقشارو نماينده ګانو په ګډون جوړ شوی دی او په دې مبارزه کې خپله دنده ترسره کوي ، او د اسلامي ، اقتصادي ، ملي ، اجتماعي او صحي اضرارو له امله د خلکو ذهنيتونه روښانه کوي چې د دې ناوړه ، عمل څخه په هر لحاظ ځان وساتی .

جمعی اطلاعات هم په خپل وار په دې باب خپل رسالت تر سره کړی دی او هلی ځلی کوي چې خپلو هيوادوالو ته د دې ناوړه عمل نتيجه تمثيل کړي . يو شمير نور باصلاحيته ارګانونه هم شته چې د ملګرو ملتو په چوکات کې په اختصاصي ډول د مخدره موادو په ضد مبارزه او فعاليت کوي .

د مثال په ډول دا لاندې اورګانونه په دې کار مصروف دي :

١ - د ملګرو ملتو اجتماعي او اقتصادي شورا چې ٥٤ غړي لري .

٢ - د مخدره موادو کميسيون چې په (١٩٤٦) کال کې جوړ شوی دی د دې کميسيون مرستندوی په نژدې ختيځ ، منځني ختيځ ، اسيا ، پاسفيك ، افريقا ، لاتين امريکا او د کارابين په حوزه کې فعاليت کوي .

٣ - د مخدره موادو د کنترول بين المللی بورد چې ١٣ غړي لري . او په

(۱۹٦۱) کال کی تاسیس شوی دی او وظیفه یی د مخدره موادو د کښت ، تولید او غیر مجاز استفادی محدودول دي . همدا راز د ملګرو ملتو د سازمان د سکرتریت په چوکاټ کی د مخدره موادو د کنترول لپاره دری اداری واحدونه وجود لري لکه :

۱ - د نشه یی موادو برخه .

۲ - د ملګرو ملتو صندوق د مخدره موادو د اعتیاد د کنترول په غرض .

۳ - د مخدره موادو د کنترول د بین المللی بورد سکرتریت .

د مخدره موادو د اعتیاد د کنترول بین المللی صندوق د غیر حکومتی موسساتو په داوطلبانه مرسته سربیره د (۱۰۰) هیوادونو حکومتونو هم د هغه سره مرسته کوي په روان کال کی (۱۹۹۰) د دی صندوق کالنی بودجه (۷۰) ملیونو امریکایی دالرو په شاوخوا کی تخمینیږي ، په (۱۹۸۹) کی دی صندوق د مخدره موادو د کنترول (۱٤٤) پروژی د جهان په (٤۹) هیوادو کی جوړی کړي دي .

کله چې سړی دغه ارقام ګوری دا امید او هیله ورسره پیدا کیږي چی که خدای کول د ملګرو ملتو د سازمان او د هغه نماینده ګیو دا انسانی هلی ځلی به د دی بدبختیو مخنیوی وکړي او دا واقعیتونه دي چی د ملګرو ملتو سازمان او د نړی هیوادونه متفق دي ترڅو د دی تباه کوونکی پدیدی (مواد مخدره) په ضد پراخه پیمانه بین المللی او بین الانسانی مبارزه وکړي .

لنډه دا چی په دی لاره کی د داکتر نه نیولی تر څارنوال ، قاضی ، استاد ، بزګر ، سوداګر او د هر انسان دنده ده چی مبارزه وکړي او د انسانیت په خاطر سره لاسونه یو کړي چی د دی وژونکی او تباه کوونکی مادی جرړه له بیخه ورکه شی او انسانان د دی لاری څخه په امن شی او په غیر مجاز ډول ورڅخه استفاده ونه شی .

په خاص ډول د مخدره موادو قاچاق کوونکي د بشریت په ضد راپاڅېدلي او عالم بشریت تهدیدوي . باید د دغه اقلیت په ضد د دوی د واقعی نابودی تر سرحده پوری انسانی ، اسلامی او اخلاقی مبارزه وشی او د دغه ډول خلکو د وجود څخه خپله ټولنه د نافذه قوانینو په رڼا کی پاکه کړي او انسانی سالم ژوند ته یی سمباله کړي .

د مخدره موادو د قاچاق وړونکو لنډه تاریخچه او په ضد یې اساسي مبارزه او هاند

اوبه شوي چرس (چرس مایع) حشیش مایع ، یا غوړ یې :
* *

وایی چې د چرسو د بوټي ځخه شاه دانه لاس ته راځي او په بیلو بیلو نومونو یادیږي چې مشهور یې عبارت د له (ماریجوانا) ، (کانجا) ، حشیش یا چرسو ځخه دي . د دې مادې ځخه غوړي په دې خاطر اخیستل کیږي چې د ماریجوانا اصلي فعاله ماده سخته شي او ورځخه (نتراهید روکانابینوني) ، (تې ، اچ ، سي) جوړ شي .
دا ډول ترکیب غیر قانوني دی ځکه چې د دې مادې ځخه تر مخه په دارو درملو کې گته اخیستل کیدله او د شاه دانې په نوم یادیده . ولې د قاچاقي درملو په بازار کې د مایعو چرسو ښکاره کیدل یوه نوې پدیده ده .
۱۹۷۳ کال د فبروري د میاشتې ځخه را په دې خوا د دې مادې کشف د پاملرنې ور انکشاف کړی دی . په درملو باندې د ځارنې اداره د ۱۹۷۳ کال په موده کې (۹٤۱ ، ۲) لیترو او (٦۳ ، ۲۸۹۰) گرامه مایع حشیشو په کشف موفق شوي

کړي یاست هغه مه کوئ . البته هغه څوك چې د الهی اوامر او احکامو پیروی ونه کړي په دنیوی او اخروی تکالیفو اخته کیږي او د رسوایی سره مخامخ کیږي .

قرانکریم یو مکمل آسمانی کتاب دی اود انسانی ژوند د چال چلند لپاره په کی د یری ښې لارښوونی شوي دي ، په قرانکریم کی د هرڅه گټې او تاوانونه په علمی ډول بیان شوي دي او ننني علوم یی په پوره دقت سره د ثبوت لپاره خلکو ته لاری خلاصوي .

د (مخدره نشه یی) او مسکره موادو په باب د قرانکریم لارښوونی په همدی بنا دی چې د دغه موادو په استعمال کی مادي ، معنوي ، صحي او اخلاقی ضررونه پراته دي او انسان د راز راز تکالیفو سره مخامخ کوي چې موږ او تاسی یی د سر په سترگو وینو او په دی لاره کی مبارزه د هر باوجدانه مسلمان انسانی دنده ده ترڅو انسان د بد بختیو څخه وژغورو او ټولنه سالمه پاتی شی .

زه به په خپل وار په راتلونکو بحثونو کی د نشه یی موادو د اقتصادي ، اجتماعی ، صحی او اخلاقی اضرارو په باب په دی کتاب کی پوره پوره رڼا اچوم او د خپلی ټولنی خلك به ورباندی خبر کرم چې په دی انسانی او اسلامی مبارزه کی زموږ سره برخه واخلي او خپل رسالت تر سره کړي .

« خلیل زی »

ده . د دی مادی کشف د همدی کال په اوږدو کی د امریکا نه بهر په نورو هیوادو کی (۱۳۱۸) لیتر د (۲۸۳۲۰) گرامو ته رسیږي .

د مایعو چرسو قاچاق چی بین المللی اړخ لري د نړی په کومه خاصه سیمه پوری اړه نه لري خو شمالی امریکا ته څه خاصه توجه لیدل کیږي چی گوندی دا قاچاق دلته دیر دي . بین المللی قاچاقبرانو د مایعو چرسو قاچاق گټور بللی دی څکه چی حجم یی کم دی تاثیرات یی دیر دی قیمت یی لوړ دی او انتقال یی ساده دی نو باید د مخدره موادو سره د مبارزی مسوولین دی تکتیك ته خاص توجه وکړي چی په اساسی ډول یی مخه ونیسی .

په امریکا کی د دی مادی د کشف ځینی نمونی :

د مایعو چرسو د کشف موضوع د خاصی پاملرنی وړ ده نو څکه خو په درملو باندی د څارنی د اداری مامورینو په دی برخه کی یو سلسله فعلیتونه تر سره کړي دي چی په لاندی ډول یی لندیز د لوستونو د زیاتو معلوماتو لپاره رانقلوو :

په کال ۱۹۷۲ کی د نیویارك د گمرك پستی کارکوونکو په یو ترلی پوسته باندی شکمن شول او کله یی چی وسپرله نژدی یو لیتر مایع چرس په کی پیدا شول دا تری د کالیفورنیا ایالت ته ترل شوی وه او د لیږدوونکی پته د هندوستان د ستاراناس لیکل شوی وه .

د فبروری په ۱۹ نیته کال ۱۹۷٤ د څارنی مامورین په واشنگټن کی د لیږوونکی په لټه کی وو .

د سپتامبر د میاشتی کال ۱۹۷۳ د تکزاس واستین په ښار کی د مایعو چرسو د جوړولو یوه پټه دستگاه په یوه کور کی کشف شوه .

د اکتوبر د میاشتی کال ۱۹۷۳ کی ثابته شوه چی د میسوری د ایالت په ښار کی یو سری بندی شوی و چی د هند نه د کانادا د لاری څخه امریکا ته د اوبه شوو چرسو د قاچاق ورلو په کار کی یی لاس درلود . په دی سربیره د دغه شخص څخه ٥ ، ١٥ ،

اونس د حشیشو د چرسو غوړي لاس ته راغلی وو ، چی زیات قوي وو او د دیرشو زرو څخه زیات د مصرف لپاره کافی و دا چی د دیرش زره واری څخه استفاده شوی وایی کفایت یی کاوه .

د اکتوبر د میاشتی په یوولسمه نیته کال ۱۹۷۳ د څارنی مامورینو د مربوطی محکمی د اجازی اخیستو څخه وروسته د کالیفورنیا د ایالت د اتپاس په سیمه کی د اوسیدو یو کورته ننوتل او هلته یی د مایعو چرسو د جوړونی یوه مخفی دستگاه کشف کړه او یوه اندازه چرس او ماری جوانا لاس ته ورغلل دا لومړنی وار و چی د جوړونی دستگاه کشف شوه او د دی روند یوه بیلگه وگنل شوه .

د دسامبر په څوارلسمه نیته کال ۱۹۷۳ د کانادا دوه تنه اتباع چی د مکزیك د پولی څخه چی په تکزاس کی دی امریکا ته راغلی او ولتول شول . د گمرك د روزل شوی سپی په مرسته دری پونده مایع چرس چی په یوه بتری کی ځای په ځای شوی و د موټر د چپ طرف څخه لاس ته راغلل او دغه دوه تنه هم ونیول شول او قانون ته وسپارل شول .

د امریکا نه بهر د دغه مادی د کشف نمونی :

یوه برنامه د (سیاست) په نوم جوړه شوه (په اساسی دول په درملو باندی د څارنی اروپایی برنامه) چی په بین المللی پولیسو پوری مربوط وه گذارش یی ورکړ چی :

د مخدره موادو په قاچاق کی دی نوی پدیدی د ځینی اروپایی هیوادو پاملرنه ځانته راگرځولی ده او داسی اطلاعات را رسیدلي دي چی وضع خطرناکه ښیی .

باندنی اطلاعات چی د پورتنی برنامی د کار کوونکو له خوا د ځینو هیوادو څخه د لیدنی کتنی په وخت کی لاس ته راغلی دی باور لرم چی د لوستونکو لپاره د علاقی وړ وگرځي .

المان :

وایي چې د جنوری په ۲۲ نیته کال ۱۹۷٤ کی یو تن الماني او دوه تنه د امریکا تبعه د پاکستان په کراچی کی ونیول شول او د دوی سره یی یوولس لیتره د چرسو غوړی چی په موټر کی یی په خاص مهارت ځای په ځای کړی ونیول غوښتل چی د کالیفورنیا د لاس انجلس سار ته یی یوسي .

د نیول شوو کسانو څخه داسی اسناد په لاس راغلي دي چی دا په داګه کوي چې دوی د دی غوړو د جوړولو لپاره په لاس انجلس کی کومه دستګاه جوړه کړی ده او یا د جوړولو په فکر کی دي څکه چی په دغه اسنادو کی په مفصل ډول دستورالعملونه موجود و او څرنګوالی یی ښودلی و . دا پیسه د قضیی دا برخه څرګندوي چی یو بین المللی موقف یی پیدا کړی دی .

د مارچ په شپږمه نیته کال ۱۹۷٤ په میونیخ کی په درملو باندی جوړونی د څارنی د څانګی د مامورینو په مرسته (۲۲) پونده غوړي (د حشیشو غوړي) ونیول شول چی دا غوړي د یو مسافر وړونکی قطار څخه لاس ته راغلل چی د (انیګوتستات) او میونیخ ترمینځ په حرکت کی و . د کشف دا ډیر لوړ رقم دی چی تر اوسه یعنی د (۱۹۷٤) کاله پوری په المان کی شوی دی .

د ۱۹۷٤ کال د مارچ د میاشتی په اوږدو کی د څارنی د اداری نماینده ګانو د المان د پولیسو د مامورینو په مرسته یو په بل پسی د پورتنیو ارقامو په شمول دری موضوع ګانی کشف کړي دي چی تولی (۱٦) کیلو ګرامه غوړي ضبط شوي دي .

په ۱۹۷۳ کال په المان کی ۸ / ۲۵ کیلو ګرامه اوبه شوي چرس او ٦ / ۱۰ کیلو ګرامه په ۱۹۷۲ کال کی په مقایسوي ډول دا خبره ثابتوي چی د دی خطرناکی مادی قاچاق یو څه زیات شوی دی .

هالند :

وایی چې په هالند کی هم دوه نمونی د ذکر او یادونی وړ دي . چی په تازه گی کی کشف شوی دی .

د جون په نهمه نیته کال ۱۹۷۳ کی د امستردام د پیپول په هوایی میدان کی یوه امریکایی پیغله ونیول شوه . دی د خپلو جامو لاندی یو شمیر د بارورې ضد لاستیکی پوششونه (کاپوته) ځای کړی وو، چې په هغو کی ۳ گرامه مایع چرس ځای په ځای شوي وو دغه مایع اصلاً په کراچی کی اخیستل شوي وو او په دی فکر چی کانادا ته یې یوسي .

د اکتوبر په ۱۳ نیته کال ۱۹۷۲ په همدغه میدان کی چی امریکایی پیغله ونیول شوه ، چی د خپل سینه بند لاندی او هم یی د خُو حلقو د کاپوت په دننه کی (٥٦٦) گرامه مایع چرس پت کړي وو ولی داسی قرائن موجود و چی د دغه مایع په امستردام کی د کومی بلی ښځی څخه رانیولی و او اراده یی درلوده چی امریکا ته یی یوسي .

په لاهه کی د حقوقی څیړنو د مرکزونو د څیړنو نتیجو دا ښودلی ده چی په مایعو چرسو کی په دوارو مواردو کی (د تی ایچ تیس) سختوالی په سلو کی د ۲۰ - ۳۲ پوری دی .

افغانستان :

څیړونو سودلی ده چی په افغانستان کی مایع چرس وجود لري او جوړیږي .
اطلاعات وایی چی د دی عمل په ارتکاب یعنی قاچاق باندی څو تنه امریکایی او اروپایان بندیان شوي دي ، البته په تیرو کلونو کی به خصوص د (۱۳۵۷) څخه تر مخه په دوه برخو کی گزارش ورکول شوی دی .

په کال ۱۹۷۱ د دسامبر په میاشت کی ۴۳/۷ لیتره مایع چرس د یو امریکایی

تبعه سره نیولی شوي دي .

د جنوری په میاشت کال ۱۹۷۲ کی (۹۵) لیتره مایع چرس د څلورو تنو امریکایی تبعه و سره نیول شوي دي چی د دی جملی څخه یی یو هم ښځه وه .

همدا راز یوه دستګاه هم نیول شوی ده او مرتکبین یی بندیان شوي دي .

د مایعو چرسو په باب عمومي اطلاعات :

وایی چی دغه ماده چی کله دیره غلیظه شي (ماری جوانا) تتراهیدرو – نانابینوی (تی ، ایچ ، سی) لاس ته راځي . په امریکا کی د ماري جوانا صرف په سلو کی د ۱۵ تر ۲ تی ، ایچ ، سی دي . چرس یو قهوه یی رنګ لري د جوانی د ګل او ګیاه څخه او یا د شاه دانی څخه لاس ته راځي . په سلو کی سی ، تی ، ایچ ، اس لري .

له بله پلوه تر اوسه پوری کشف شوی دی په مایعو چرسو کی تی ، ایچ ، سی په سلو کی تر ٦٥ په شاو خوا کی دي .

په درملو باندی د څارنی د اداری په یوه دستګاه کی د نمونی په ډول یوه عملیه وشوه چی په سلو کی ٦٢ یی ښودلی دی .

قرائن څرګندوي چی په دی کار اخته کسان هڅه کوي چی دا ماده د تعامل له لحاظ نوره هم سخته کړي . او کوشش روان دی چی خالصه درجه ۹۸ په سلو کی او حتی سل په سلو سخته کړي او دا کار روان دی او په دی برخه کی خاص فعالیت کیږي په دی کی د هغه چا لپاره ګټه ده چی د دی قاچاقبري کوي .

مصرف :

د دی مادی غوړي د نورو مخدره موادو په څیر په مختلفو لارو مصرفیږي . په دی ماده کی فوق العاده قدرت پروت دی . د ځان د نشه کولو لپاره یو څاڅکی کافی

دی او د دی ځخه په سګرټو کی ، شرابو او غذا کی استفاده کیږي او نشه یان په دی اخته دي او داسی نوری لاری چاری هم شته چی د نشو لپاره ورځخه استفاده کیږي .

تولید :

د تولید لپاره یی هم خاص دستګاه وی دي چی ځینی په عمومی ډول او ځینی په محیطی ډول دغه ماده جوړوي او د استفادی له پاره ورانډی کیږي .

وایی چی یوه دستګاه چی دیره پیاوړی وه او د دی مادی ځخه د غوړو جوړولو لپاره په کی کافی امکانات و او ځینی لارښوونی هم ورسره وی او قصد یی درلود چی منځنی ختیځ ته یی ولیږدوي ، ولی تراوسه د امریکا د متحده ایالاتو په مرکزی او لویدیځو سیمو کی په مکزیك کی پته پاتی ده .

په استرالیا کی یو ځه کمه اندازه د کپسول په ډول لاس ته راغلي دي .

وایی په کابل کی د دی کار د استحصال او قاچاق له پاره یوه بله ساده لار غوره او تاکل شوی ده او هغه دا چی :

دوه ټوټی په دی غوړو ککړی وی او یو په بل یی نښلوي په داسی ډول چی دا ټکر د یوی ټوټی شکل پیدا کري . وروسته دغه ټوټی ته زیات اهار (بت) ورکوي ترځو یی پته معلومه نه شي .

متداوله او رواج طریقه دا ده چی نارینه د کابوت ځخه استفاده کوي چی پر بیلو بیلو دولونو هغه پټولی شي .

د دی تولو سره سره د دی غوړو په وجود کی د تی ، ایچ ، سی زیاتوالی هغه چاته د یو زیات زیان رسوي چی مصرفوي یی .

البته د دی مادی تاثیرات لا تراوسه زیات روښانه نه دي . د دی مادی مصرفوونکي خالص درجی ته متوجه نه دي او نه پوهیږي چی آیا د حشیشو د غوړیو مصرف په سلو کی شل یا په سلو کی ٦٥ تی ، ایچ ، سی لري ؟

ولی که دغه ماده په سلو کی سل خالصه وي د مصرف کوونکی لپاره د زیات

خطر منبع گڼل شوی ده .

د مثال په ډول په کال ۱۹۷۲ نږدی (۷۷۷) گرامه اوبه شوي چرس د متحده ایالاتو دورمانت په ایالت کی کشف شو ، سره د دی چی د تی ، ایچ ، سی اندازه په کی په سلو کی تر ۲۲ زیاته نه وه ، ولی د محاسبی له مخی اثر یی د ماری جوانا د (۵۵۰۰) کیلو گرامه سره برابروو .

وایی چی د مثال په ډول د دی مادی د سختو اثراتو په نسبت د یوی واقعی ذکر شیئ چی د جون د میاشتی په وروستیو ورځو کی کال ۱۹۷۳ یو سړی چی په مراکش کی د مخدره موادو د قاچاق د محکومیت سابقه درلودله دا غوړي یی په افراطی ډول استعمالول د بالتیمور د ښار یو روغتون ته په وخیم حالت کی راوړل شو ځرگنده شوه چی د ده د خپل وینا له مخی چی دغه غوړي امریکا ته وړل او په شلو کاپوتو کی یی ځای پر ځای کړي ولی یوه دانه یی په معده کی څیری شوی وه او دغه ماده مستقیماً د ده بدن ته ننوتی وه دا سړی په خطرناك حالت کی څه موده په دغه روغتون کی بستر و ولی یو څه ښه شو . (۱۹) کاپوته چی (۳۰۰) گرامه غوړي په کی ځای په ځای شوی وو د ده څخه لاس ته راغلل .

د یادونی وړ ده ، چی د دی غوړو مرکزیت چی تراوسه کشف شوی دی د افغانستان ، هندوستان څخه د بار وړونکو تجارتی شوکتونو یا په مستقیم ډول امریکا ته لیږل شوی دی او یا د کانادا له لاری دی هیواد ته لیږل شوی دی تراوسه پوری اکثرا تولید کوونکی او لیږدوونکی یی د امریکا اتباع تثبیت شوی دی او دا محاسبه دقیقه ده .

د دی غوړو د قاچاق اهمیت :

په دی غوړو کی د تی ، ایچ ، سی وجود خورا زیات خطر ایجاد کړی دی ، هغه څوك چی د دی سره تماس لري لکه دانشمندان ، څیړونکي ، مصرف کوونکي او هغه مامورین چی د دی مادی د قاچاقبرانو په ضد مبارزه کوي دغه خطر حس کوي .

د پوهانو جدي دنده دا ده چی د دی مادی سختوالی په سلو کی (۹۰) ته

ورسولای شي ، د دی غوړيو وړل را وړل د دی مادی سره د مبارزی د مامورینو (موظفینو) کار تر پخوا زیات د مشکل سره مخامخ کوي .

د مبارزی موظفین د دی پر ځای چی د ماری جوانا نسبتاً د لوی شیشو په لته کی اوسي د هغی د مایع د وړو شیشو لټه کوي ځکه چی په ډیره اسانی سره پټیدلی شي او وړل را وړل یی ساده دي . کولای شی دا ماده په مشروب کی الکولو ، عطرو او په تولو محلولونو کی حل کړي او یا د مثال په ډول په یوه واره پلاستیکی بکس کی (جیبی) یایی د ترشی په شیشه او داسی نورو کی پټ کړی او د دی امکانات شته دی .

باید دا هم وویل شي چی دا غوړي د امریکا د متحده ایالاتو په جنوبی مرکزي سیمو اروپا او مینځنی ختیځ کی کشف شوی دي او هلته جوړیږي . خو په منځنی ختیځ کی زیات طرفداران نه لري ، او فابریکی یی زیاتی په مرکزي او لویدیځو برخو کی دي د امریکا د مکزیك او جنوبی امریکا په سیمو کی کشف شوي دي ، البته دا فابریکی د ځمکی لاندی دي .

د ښوونکي کتابچه

له دی امله چې ځوان نسل د دی بدبخته مرض څخه نجات مونډلای وي او د عواقبو څخه یی کاملاً اگاه وي د امریکا د متحده ایالاتو د عدلی وزارت د مخدره موادو سره د مبارزی او مخنیوی د مخدره موادو د پیژندل ، تریاك ، کیمیاوي مخدره مواد او کوکاینو په باب یو څه لارښوونی کړي دي چی باید شاگردان محصلین وربانډی اگاه کړي او وړو وړو عنوانونو په ترڅ کی تشریح او توضیح کړي دي .

عمومي هدفونه :

د تریاکو د بوټی ، تریاکو ، د هغه د مشتقاتو ، د کیمیاوي موادو د څرنگوالی نه چی د سکرو د قیر د محصولاتو څخه جوړیږي ، د کوکا د بوټی او د هغه د اصلی محصول نه یعنی کوکاین څخه د شاگردانو خبرول .

ضمني هدفونه :

۱ - د کیمیاوي موادو ، د کوکا او تریاکو د مشتقاتو له نظره د مخدره موادو پوری د مربوطه پرابلمونو ، د پراختیا او تاریخ په باب پیژاندنه .

۲ - د کوکا او خشخاشو د دانو او بوټی د خصوصیاتو په باب معلومات .

۳ - د محیط د ساتنی او نورو هغه عواملو په باب معلومات چی اثرات یی په نباتاتو ، بوټو او کیمیاوي موادو کی لیدل کیږي .

٤ - په مخدره کیمیاوي موادو ، لابراتواری کیمیاوي موادو او په نباتاتو کی د قلییایی او کیمیاوي موادو په باب د کافی معلوماتو لري .

٥ - د نباتی موادو څخه د کوکاینو ، تریاکو څخه د غیر مشروع او غیر قانونی جوړونی د لارو چارو څخه پره خبرتیا ولري .

٦ - د مورفینو څخه کودین د مورفینو څخه د هیروئینو د جوړولو د لارو چارو څخه ځان خبرول .

۷ - همدا راز په دی خبره ځان پوه کول چی دغه مواد په کومه اندازه خوړل کیږي او علایم د مصرف یی څه ډول دي . په شخص کی د مسمومیت څه عکس العملونه او تاثیرات لري او وروستنی اثرات یی څه دي ؟

د نمونی په ډول سوالونه :

۱ - د کوکا د بوټی ، د تریاکو او خشخاشو د بوټی استعمال او د هغو تاریخی اهمیت ته لنده کتنه .

۲ - د قانون په ژبه د کوکا او تریاکو د بوټی علمی نومونه څه دي ؟

۳ - د دغه بوټو عمده خصوصیات تشریح او توصیف کړی ؟

٤ - دا خبره توضیح کړئ چی د کوکا د بوټي د پاڼو د کوکاین خمیره او د تریاکو څخه د مورفین جوړول په غیر قانونی ډول څرنگه کیږي ؟

د نشه يي موادو تاريخچه

کله چې د نشه يي موادو نوم واوريدل شي نو هرومرو د اوريدونکي ذهن ، فکر يو خوا بل خوا ته ځغلي ، چرس ، ترياك ، هيروئين ، مورفين ، کوکائين ، شراب ، ماندرکس او داسې نورو ته رسيږي ، او بې له شکه دا ټول نشه يي مواد دي . ولې د مخدره موادو خبره په دوه بوټو کې ده او هغه د کوکنار او بنگو بوټي دي چې په عمده ډول مخدره (نشه يي) مواد د همدوی څخه جوړيږي او په کيمياوي تعامل سره لاس ته راځي .

مسکره مواد هم په عمده ډوگه د انگورو څخه لاس ته راځي ، ولې څه نور مواد هم شته دي چې د تخمر څخه وروسته ورڅخه شراب لاس ته راځي چې البته د هر يو په برخه کې به په خپل وار خبرې وکړو او ټول اړخونه به يې سېکاره کړو .

۵ - هیروئین په څه ډول د مورفینو څخه جدا او جوریږي ؟

٦ - د مخدره موادو د تاثیراتو دواړه څواوی تشریح او توصیف کړئ ؟

۷ - د سایکولوجی او جسمي نظره د اعتیاد علایم او اثار توضیح کړئ ؟

۸ - په عصبی سیستم کی د کوکاینو محرکه اثرات او نور تول تاثیرات څه دي ؟

۹ - دا توضیح او تشریح کړئ چی کوکاین په څه طریقه په کوکاین هیدروکلورید او هیروئین په هیروئین کلورید باندی تبدیلیږي ؟

۱۰ - د هغه درې ډولونو نومونه چې د قلییایی موادو څخه چی په تریاکو کی موندای شي څه دي ؟

تربیوي وسایل :

۱ - دوه انچ په دوه انچو کی رنګی سلایدونه چی په تریاکو او د هغوی په مشتقاتو او کوکا او د هغه په مشتقاتو پوری اره ولري .

۲ - شپارس په شپارسو ملیمترو کی سینمایی فلمونه چی د مخدره موادو د مرکزونو په نوم یادیږي باید وښودل شي .

۳ - هغه خاص جدولونه او لاری چاری د خشخاشو څخه د تریاکو او د کوکا بوټی څخه د کوکاینو لاس ته راوړل .

٤ - هغه جدولونه او لاری چاری چی مورفین په هیروئینو د هیدروکلورید او کوکا په کوکاینو هیدروکلورید باندی بدلوي .

۵ - هغه جدولونه او لاری چاری چی د مخدره موادو عمده کیمیاوي ترکیبات او اصلي مشتقات ګنل کیږي .

٦ - د لکچرونو او کنفرانسونو له لاری لارښوونی او زده کړی .

۷ - د اوریدو او لید له لاری خاص خپرونی .

د ښوونې او روزنې لار :

لکچر او بحث .

ضروري وخت .

د لکچرو کولو څرنګوالی .

ترياک ، کيمياوي مواد او کوکاين

* * * * * * * * * * * * * * * * *

لومړی برخه ترياك او کيمياوي مواد .

تاريخچه :

الف – سوماريان کال ۶۰۰۰ د ميلاد نه ترمخه .

ب – هومرو په کال ۱۰۰۰ د ميلاد نه ترمخه .

ج – د چين پرابلم او مسئله .

۱ – د پرتګاليانو معاملات .

۲ – د انګريزانو معاملات .

۳ – د ترياکو جنګونه : ۱۸۴۰ – ۱۸۴۵ – ۱۲۱۹ او ۱۲۲۴ ، کلونه .

د امريکا پرابلم او مسأله :

۱ – په ۱۹ پيړی کی د کنترول او څارنی نشتوالی .

۲ – د پوستکی لاندی پيچکاری او امپولونو اختراع او جوړونه ۱۸۶۰ او ۱۲۳۹ کلونه .

۳ – د امريکا په کورنيو جنګونو کی د ترياکو او مورفينو استعمال .

۴ – په کال ۱۹۰۰ او ۱۲۷۹ کی د معتادينو شمير .

۵ - په فیلیپین کی اعتیاد :

الف - د شانگهای کنونسیون په کال ۱۹۰۹ او ۱۲۸۸ کی .

ب - د لاهی کنونسیون په کال ۱۹۱۲ ، ۱۹۱٤ ، ۱۲۹۱ او ۱۲۹۳ کی .

٦ - د هیرئیون د مخدره موادو د قانون تصویب کلونه ۱۹۱٤ او ۱۲۹۳ کی .

الف - د پورتنی قانون د اجرأ مربوط مسأیل .

ب - د مخدره موادو د غیر قانونی معاملاتو رامنځ ته کیدل .

۷ - د مخدره موادو د واردولو او صادرولو د قانون تصویب .

الف - په هیروئینو پوری مربوط متهم قانون ۱۹۲٤ او ۱۳۰۳ کلونه .

ب - په هیروئینو پوری مربوط متهم قانون ۱۹۵۷ او ۱۳۳٦ کلونه .

دوهمه برخه

په تریاکو پوری مربوط د بوتو د پیژندلو علم :

الف - علمي مشتقات : (پاباورسامنی فروم - ل) .

ب - گلونه ، د گلونو اندازه ، د گلونو د جوړښت ډول ، د گلونو رنگ او ډولونه .

ج - تخمونه ، د تخمونو اندازه ، د تخمونو رنگونه ، او د استعمال ډول یی .

د - د بوتی پاڼی ، نوعیت او دولونه .

دریمه برخه

د ژوند په چاپیریال پوری مربوط علم :

الف - د خاوری شرایط او غوښتنی .

ب - هوای او جوي عوامل .

ج - د زرغونیدلو او لویدلو اندازه .

د - د خشخاشو دښمنان .

۱ - چینجی .

۲ - گاون ، طوطی ، شادي (بیزو) .

۳ - نباتي مرضونه .

څلورمه برخه

د دوی ترکیبي او قلیایی مواد :

الف - په قلیایی محصولاتو کی نیتروژن (ازوت) تاثیرات .

ب - د فنانزین قلیایی موادو د تشکیل دول .

پنځمه برخه

د دوی ترکیبي او قلیایی مواد :

الف - په قلیایی محصولاتو کی نیتروژن (ازوت) تاثیرات .

ب - د فنانتون قلیایی موادو د تشکیل ډول .

۱ - د قلیایی موادو تعریف .

۲ - د مورفین مولکولونو بدلیدل او عوض کیدل .

الف - د نباتو مشتقات او د استعمال مواد یی .

ب - د کودین مشتقات او د استعمال مواد یی .

ج - د مورفین مشتقات او د استعمال مواد یی .

د - د حاصل اندازه یی .

۱ - په هر کوکنار او هر جریب کی .

الف هندوستانی ډول .

ب - ترکي ډول .

ج - ایراني ډول .

د - په امریکا او نوره دنیا کی ضروري شرایط .

هـ - د مخدره موادو د کنترول د قانون مطابق د مخدره موادو جدول بندي .

شپږمه برخه

د جوړنی لاری چاری :

الف - د کوکنارو څخه د تریاکو ایستل :

۱ - عادي لاری چاری .

۲ - د تریاکو د څانگونه .

ب - د تریاکو نه مورفین جوړونه :

۱ - قانوني .

۲ - غیر قانوني .

ج - په هیروئینو باندی د مورفینو بدلول : (ایچ - سی - ایل)

۱ - د هغی نتیجه او لاره یی .

۲ - د هیروئینو تاریخچه .

۳ - طبي قانوني استعمال یی .

٤ - غیر قانوني استعمال یی .

الف - خارجي عوامل یی .

ب - حلال عوامل یی .

اوومه برخه

د تریاکو د مشتقاتو فیزیولوجي تاثیرات :

الف - دوه گوني تاثیرات .

۱ - محرکه عوامل .

۲ - بی سره کوونکي عوامل .

٣ - بی حسه کوونکي عوامل .

٤ - د ټوخي ضد عوامل .

ب - د کیف او نشې حالت .

ج - د اعتیاد حالت (د مخدره موادو استعمال ته ضرورت)

١- رواني او سایکولوجي اعتیاد .

٢ - بدني او جسماني اعتیاد .

د - د مصوونیت ایجاد او تولید .

هـ - د ځان ساتنې او کنترول حالت .

اتمه برخه

افیوني مواد :

الف - د مخدره موادو د کنترول قانون مطابق د افیوني موادو تعریف .

ب - ښنسدېن :

١ - تاریخچه .

٢ - کیمیاوي ترکیبات یې .

٣ - مشتقات یې .

٤ - د عادت کیدو امکانات یې .

٥ - د طبي استعمال موارد یې .

ج - میتادون :

١ - تاریخچه یې .

٢ - کیمیاوي ترکیبات یې .

٣ - مشتقات یې .

٤ - د اعتیاد امکانات یې .

۵ - د طبي استعمال موارد يی .

د - مورفين مواد :

۱ - متيل مشتقات يی .

۲ - د بصري استعمال موارد يی .

الف - د طبي استعمال موارد يی .

ب - اعتياد امکانات يی .

دوهمه برخه کوکا او کوکاين :

الف - د هغه چا په‌مبنځ کی د مخدره مادی په عنوان د کوکاينو او نورو مخدره موادو د استعمال په باب تبليغ چی مخدره مواد مصرفوي .

ب - د مملکت په داخل سرحدونو او بحري بندرو کی د کوکاينو کشفولو ته زيات شمير سازمان ورکول .

۱ - په کال ۱۳۴۲ - ۲٤ کيلو گرامه .

۲ - په کال ۱۳۵۲ - ٦۲۵ کيلو گرامه .

۳ - په کال ۱۳۵۳ - ۱۳۰۸ کيلو گرامه .

ج - په دی باندی دخلکو د پوهولو هدف او ضرورت او اوسني پرابلمونه او ستونزی .

د - د ښاغلی انسلينگر توصيی او پيشنهادونه .

تاريخچه :

الف - د کوکاينو د لومرنيو مصرف کوونکو او معتادينو ته داستانونه او کيسی .

۱ - د پيرو د مملکت پوری مربوطه کيسی .

۲ - د موليويا په مملکت پوری مربوطی کيسی .

ب - د مصرفوونکو په باب موجوده مدارک .

۱ - د چاون مدنیت د دریمې پیړۍ څخه تر اوومې پیړۍ پورې .
۲ - د ناسکار مدنیت د اتمې پیړۍ څخه تر لسمې پیړۍ پورې .
۳ - د واتیکان مدنیت د یوولسمې پیړۍ څخه تر شپاړسمې پیړۍ پورې .

د اجتماعی او منطقوي نظره د کوکا تسلط او سلطه :

د پزارو او د مارگو په وسیله په کال (۱۹۱۱) کې د جنوبي امریکا فتح .
د لیما د مملکت تشکیل په ۱۵۳۵ او ۱۹۱٤ کلونو کې .
د واتیکان متقابلې حملې .
د مسیحانو ماموریت .
تولیدو ، پنځم مشر د کوکا د کنترول په باب اویا قانونه صادر کړي .
٤ - په کال ۱۹۵۵ ۱۳۳٤ د ملتونو غوندې کمیسیون د رئیس گزارش او راپور ورکړی دی .
الف - د کوکا د افراطي جویلو علت .
۱ - پخواني رواجونه .
۲ - هلته چې محیط بدبخته وي (په بدو شرایطو کې) .
ب - د ځوان نسل په مینځ کې د کوکا استعمال .
ج - د کوچیانو ترمینځ د کوکا استعمال .
۵ - تر حده زیات محصول :
الف - د طبي ضرورتونو د استعمال له پاره (۵۰۰) تنه .
ب - د طبي ضرورتونو سره د مشابیه استعمال له پاره (جویل) ۸۰۰۰ تنه .
ج - د غیر قانوني ناروا استعمال له پاره ۵ / ۲۲۰۰۰ تنه .

د کوکا د بوټي په ارتباط پیژندنه :

الف - طبقه بندي ، د کوکا علمي انشعابات ، د لامارك اکستیرو کې له نظره .

ب - د کوکا گل ، اندازه ، شکل رنگ او د تولید برخی یی .

ج - د کوکا تخم او دانی ، اندازه شکل رنگ ، لوګول او کرل یی .

د - پانی یی .

۱ - خاص تشخیص کوونکی حالت یی .

۲ - رګونه او خاخونه یی .

۳ - غنچی یی .

هـ - د کوکا د ونی تنه او پوست یی .

۱ - د رنګونو ډولونه یی .

۲ - تاثیرات یی .

دریمه برخه لوګول او د حاصلاتو اخیستل :

الف - د لویدلو اندازه یی .

ب - د پانو غوندول یی .

۱ - لاری یی .

۲ - د تهیه کولو او ساتلو لاره یی

ج - د محصول نتیجه او اندازه یی .

۱ - په هره بسوه او هر جریب کی .

شنی پانی یی .

وچی پانی یی .

۲ - په هر موسم کی یی د کر کروندی د محصول نتیجه او اندازه .

څلورمه برخه د کوکا دښمنان :

الف - میزان - جوړی یی پریکړي تنه او پانی یی خرابوي .

ب - آبی او خاکی رنگه چینجیان چی ریشی پریکوي .

ج - قارچ (یو ډول حشره) چی ځوانی نودی یی خرابوي .

د - شوپرك ، چې په دی کی تخم اچوي کله چې هغه په شوپرك بدلیږي او ټول بوټی خرابوي .

هـ - هرزه بوټی ، د کوکا د بوټی څخه غذایی اصلی مواد اخلي .

پنځمه برخه محیطی وضع :

الف - د خاوری وضع او شرایط .

ب - د گرمی ضرر رسوونکي درجه (۱۸ څخه تر ۲۵) سانتی گراد پوری .

ج - د رطوبت اندازه (۸۰ څخه تر ۹۰) پوری په سلو کی .

د - لوړوالی د ۵۰۰ متره - ۲۰۰۰ متره پوری .

هـ - د طوفانونو د تندر او بریسنا اثرات .

۱ - نیتروژن سایکل (آزوت) .

۲ - د عناصرو ضد ، د ورو له لاری څخه .

۳ - د پانو د جوړښت شکل او سلولی جوړښت یی .

شپږمه برخه کیمیاوي جوړښت :

الف - د قلیایی موادو تعریف .

ب - د نباتي او حیوانی قلیایی موادو نمونی او مثالونه .

ج - د کوکاینو کیمیاوي ترکیبات او جوړښت .

۱ - اتروپین .

۲ - اکگونین .

۳ - میتل اکگونین .

بنګ :

دغه بوټی د ډیری اوږدې مودی را په دی خوا په وحشي ډول (خود رویه) د غرنیو سیمو د رودونو په غاړه لیدل شوی دي او تر نورو بوټو څخه اوبو ته زیات ضرورت لري . د وخت په تیریدو سره د انسانانو د پلټنی په اساس دغه بوټی اهلی شو ، په دی معنی چی د روزنی لاندی ونیول شو . د لغت په کتابونو کی راغلي دي وایی : چی دا یو بوټی دی د (هیونامین) اشیمی مادې لرونکی دی چی دغه مخدره او مسکن ده په بلوچستان کی شنه کیږي .

د دی بوټی د پاڼو او څانګو د ټکولو څخه شاهدانه په لاس راځي ، چی په هغی کی سمی او مخدره ماده ده ، په ډیره کمه اندازه په درو درملو کی استعمالیږي . او کله یی دانی خرڅوي .

د بنګو دانی ټکوي او د شیدو سره یی ګډوي د مخصوص عمل په اساس د بنګو غوړي ورڅخه لاس ته راوړي ، کله ورڅخه بنګ آبه جوړوي او څښل کیږي او وایی چی د سوزاك لپاره هم دارو دي .

اود لوګی په ډول چی نن سبا رواج دی او زموږ په اصطلاح ورته چرس وایی چی هم استعمالیږي چی دا حالت یی زیات رواج شوی دی او خطرناك دی .

دا بوټی په وحشي توګه (خود رویه) په آسیا ، افریقا او امریکا کی شنه کیږي .

د طب پوهانو هم په دی باب ډیری اوږدی علمي څیړنی کړي دي او د دی مادی استعمال یی په صحي لحاظ ډیر خطرناك بللی دی .

ډاکتران وایی چی : د چرسو د استعمال له امله په ستوني کی درد او تخریش او د خنجری د سرطان د مرض عامل ګرځي .

دا بوټی په ډیرو نومونو یاد شوی او هغه مواد چی د دی بوټی (شاه دانی) څخه په لاس راځي مشهور یی « ماریجوانا ، ګانجا » او یا چرس دي .

وایی چی په پخواني یونان کی دغه مواد په درو درملو کی استعمالیدل او دردونه یی تسکینول . دا چی انسانان یو څه خاصی غریزی لري د وخت په تیریدو سره یا د

٤ – تشعشعی کمیاوي ترکیبات .

٥ – هیگرین .

٦ – کوکاکولا لپاره ضروري غوړي او موم .

د کوکاینو تاریخچه .

د حکومت له خوا د هغه کنترول او تجزیه .

اوومه برخه د کوکا کیمیاوي تجزیه

اتمه برخه د استعمال لارې چارې :

الف – میده کول .

١ – خوږې پانې .

٢ – تروې پانې .

ب – د پزې له لارې استعمالول .

ج – د پیچکارۍ له لارې .

نهمه برخه فیزیلوجکي تاثیر او عمل :

الف – اس – ان – اس .

ب – په مناسب سیستم کې یې تاثیرات .

ج – په نیمه مناسب سیستم کې یې تاثیرات .

د – د کوکا غیر اعتیادي جوانب .

هـ – د مصوونیت نشتوالی .

و – د جنسي قدرت د تقویې اړخ یې .

ز – د نه ستړیا د اثارو ښکاره کول .

ح – د سترګو په ګاټو کې اتساعي اثرات .

لسمه برخه د تولید او استخراج غیر قانونی لار یی :

الف - د خکلو او استخراج ماده یی .

ب - تصفیه او خالصول یی .

ج - په اچ - سی - ال باندی بدلول .

یوولسمه برخه غیر قانونی خرڅلاو او قاچاق یی :

الف - د خرڅلاو او اخیستو لاری چاری یی .

ب - غیر قانونی او ناروا گټی یی .

دا تول هغه بحث و چی د تبلیغ په لاره کی د دغه مرحلی څخه ډیر موثر ډول لري او که په دی طریقه عملی تبلیغ وشي او ورسره ورسره متقابله همکاري وجود ولري بی له شکه به یی نتایج گتور او مثبت وي .

مسکره مواد

د نشه یی موداو د جملی څخه یو هم شراب دي . د دی د جوړونی تاریخ هم ډیر پخوانی دی او که مبالغه نه شي تر میلاده تر مخه هم د شرابو جوړول رواج و .
د جاهلیت په دورو کی یی زیات رواج درلود او استعمال یی هم زیات او په خاص ډول په عربو کی د حضرت محمد صلی الله علیه وسلّم تر بعثت تر مخه مباح ګڼل کیدل .
کله چی حضرت محمد صلّی الله علیه وسلّم مبعوث هم شو تر یوه وخته پوری د دی عمل د حرمت په باب څه الهی احکام نه و موجود ، ولی د دی عمل په ضد مبارزه داسی شروع شوه او قرانکریم دا کیسه داسی بیانوي :

د قرآني حکم مفهوم : په قرآنکریم کی خدای پاك حضرت محمد صلی الله علیه وسلم ته لاربنوونه کوي فرمایی : که له تانه پوښتنه کیږي چی شراب او قمار څرنگه عمل دی نو ته ورته ووایه چې په دې دواړو کې لویه گناه ده او گټی هم د خلکو لپاره په کی شته ولی د گټی څخه یی زیان دیر دی .

دا هغه وخت و چی د شرابو د حرمت په باب نور الهی هدایت نه موجود .

په دی کی شك نه شته چی د شرابو په خلکو کی نهایت زیات زیان دی او هغه څوك چی په دغه بد عمل اخته کیږي او استعمالوي یی د دیر زیات مادي ، معنوي ، اقتصادي او روغتیایی زیانونو سره مخامخ کیږي .

د دی مبارك ایت په تعقیب یو بل الهی حکم وشو چی قرآنکریم د هغه حکم بیان داسی کړی دی :

د قرآنکریم د حکم مفهوم : ای مسلمانانو د نشی او سکر په حالت کی لمونځونه مه کوئ ترڅو وپوهیږئ چی تاسی څه وایاست .

مطلب دا چی کله لمونځ کوئ نو باید نشه ونه اوسئ . ځکه چی د نشی په حالت کی څوك په خپلو خبرو اترو کی غلطی کوي او د قرآنکریم غلط لوستل او هغه هم په لمانځه کی که د یوی خوا گناه ده له پلوه لمونځ وربانذی فاسدیږي .

په دی سربیره په دی حالت کی (سکر) د انسان څخه هغه انسانی ملکوتی صفات ځي او حیوانی صفات پیدا کوي او دا د دعا اداب نه دي او د جهالت په وخت چی سړی په صحیح او غلط نه پوهیږي نو باید لمونځ ونه کړي . د یو حدیث شریف مفهوم داسی دی چی حضرت محمد صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي :

« عبادت د خدای (ج) وکړی په داسی شان بانذی چی کله پر لمانځه ولار یاشت داسی حالت غوره کړئ چی تاسی خدای (ج) وینئ او خدای (ج) تاسی گوري . که چیرته تاسی خدای (ج) نه وینئ نو هغه تاسی گوري » .

یو بل روایت هم شته علماء وایی که چا سوگند وکړ چی زه د خدای سره خبری کوم نو سمدستی دی پاڅیږي اودس دی وکړي لمونځ دی وکړي په دی سوگند نه نیول کیږي

ځکه چې لمونځ ټول د خدای (ج) سره خبرې دي .

اصلاً د دې مبارك قرآني ایت د نزول مطلب دا و چې یوه ډله سره په کومه میلمستیا کې ناست وو ، ځرنگه چې د شرابو د حرمت په باب کوم خاص الهي احکام نه وو موجود نو دوی شراب څکلي وو ، د ماښام د لمانځه وخت راغی نو ټول لمانځه ته پاڅېدل او په لمانځه ودرېدل . امام « قل یاایها الکفرون » په سورة کې « لااعبد ماتعبدون » په ځای د بې سدې په حالت کې « اعبد ماتعبدون » ولوست او په دې ډول بالکل غلط و نو ځکه دغه مبارك ایت نازل شو او لارښوونه وشوه چې د سکر او نشې په حالت کې لمونځونه مه کوئ .

په همدې ترتیب څه وخت وروسته یو بل ایت نازل شو او داسې لارښوونه ، هدایت او تاکید وشو :

د قرآني حکم مفهوم : ای مؤمنانو بیشکه چې شراب ، قمار ، بوتان او غشي دا ټول پلید کار دي او د شیطان عمل دي نو ځان ترې وساتئ د دې له پاره چې تاسې نجات ومومئ .

د شرابو څکل د شیطان عمل بلل شوی دی او ځوك چې د شیطان په لاره ځي عواقب یې هرومرو خطرناك دي .

په پورتني ایت سره د شرابو حرمت ثابت شوی دی او گناه بلل شوی ده . جزا لري او قوانین هم په دې برخه کې احکام لري چې په خپل وار تطبیق شوي او تطبیقیري او دا کار گناه او ضرر گڼي او همداسې ده .

د شرابو ډولونه :

د لومړي وار له پاره د شرابو جوړولو کومه خاصه بڼه نه درلوده او د موادو د تخمیر محصول و ، چې په محیطي خاصو ادواتو کې لکه امبیق جوړېدل او استفاده ورڅخه کیدله . ځومره چې انسان انکشاف کړی او په هر کار کې خاص بدلونونه راغلي دي نو بې له شکه ماشینونه او لابراتوارونه جوړ شوي دي . او دغه الکولي مواد (مشروب)

هم په مختلفو دولونو توليديږي . ځينی د يو کار او ضرورت او ځينی د بل ضرورت لپاره استعماليږي ، چی په دې نومونو ياديږي .

١ - واين - سپين او سره .

٢ - ويسکی - جاني واکر ، بليك ايند وايټ او داسی نور .

٣ - ودکا - ستاليچنيا - روسکيه او داسی نور .

٤ - کَيناك - گروزنسکی او داسی نور .

٥ - شوکلات - کيناك او د دې نور ډولونه .

٦ - کمپاری ايطاليه او داسې نور .

٧ - برندی او د دوی نور ډولونه .

د دې الکولي موادو څخه يو هم د صحت له پاره ښه نه دي او ټول يو مضر عمل دی ولی يو ډول ښځې يقيناً شنډوي او ځينی سترگی هم ړندوي .

د شرابو صحي ضررونه :

د طب پوهانو په دې برخه کی زياتې څيرنې کړي دي او دا ماده يې ضررناکه بللی ده . وايی چی د الکولی موداو استعمال د انسان جسمي او روانی روغتيا ته لوی خطر دی ، د وينی په جريان کی د زړه فعاليت د معدې ، سږي او د اعصابو په سلسله باندی ناوړی اغيزی لري . د الکولی مشروباتو استعمال د وجود مقاومت د مکروبی مرضونو په مقابل کې کموي ، وينه کميري ، هيريدل زياتيږي ، ذکاوت په تدريجي ډول کميري د سر ماغزه گنجی کيږي او د مختلفو سرطاني ناروغيو سبب گرځي .

نو راځئ تاسی فيصله وکړئ چی په انسان کی خو همدغه شيان دي چی ياد شو نو که دا په انسان کی نه وي څه به پاتی وي ؟

بی له شکه چی اسلام څوارلس سوه کاله تر مخه دغه عمل بد منلی دی او فرمايلی يی دي چی « د گټی څخه يی ضرر دير دی » د يو ساعت نشی له پاره خپل ټول ژوند د تباهی سره مخامخ کوي او د خپلی کورنی اقتصادي او اجتماعي وضع هم خرابوي .

زموږ په افغاني او اسلامي ټولنه کې دغه ډول خلك تجريدوي او ځوك ورسره كور او كلي نه كوي نفرت ورځخه لري او همدا وجه ده چې د يو شمير خلكو ځخه مطلق انزجار موجود دی ، ولی نن سبا زموږ په ګران هيواد کې دی مرض پرمختيا کړی ده او که مخه يې ونه نيول شي نو عاقبت به يې ډير بد وي .

که ځه هم د مخدره موادو سره د مبارزی عالی کميسيون دی اصل ته هم پاملرنه کړی ده او د مبارزی جزيی بولي او په دی لاره کی هم مبارزه کوي .

وايي حضرت محمد صلی الله عليه وسلم کله چې حضرت عمر رضی الله عنه په اسلام مشرف شو نو يوه ورځ يې ورځخه پوښتنه وکړه چې ای عمره ! هغه اعمال چې د اسلام مقدس دين يې ګناه او جرم بولي تا په کفر کی هم نه دي کړي ؟

حضرت عمر رضی الله عنه عرض وکړ چې ای د خدای پيغمبره ، هغه دری شيان دي زنا ، شراب او دروغ . دا دری کاره مې نه دي کړي . حضرت محمد صلی الله عليه وسلم يې ورځخه د نه کولو علت وغوښت . دوی وويل : زه د خپل قوم او قبيلی مشر او سپين ږيری وم او د قوم او قبيلی مشر بايد د لوی وقار خاوند وي او خپل وقار وساتي . که زه د دغه دری عملونو مرتکب کيدلم نو وقار مې له لاسه ورکاوه نو ځکه مې د خپل وقار د ساتنی له پاره دغه کارونه نه دي کړي . که ځه هم د حضرت محمد صلی الله عليه وسلم د بعثت ځخه تر مخه په عربو کی زنا او شراب روا بلل کيدل .

د دی خبری په رڼا کی دی نتيجی ته رسيږو چې تر ټولو د مخه بايد د کور ، کلي ، قام او قبيلو مشران د دی عمل ځخه ځانونه وژغوري او کله چې دا کار وشو نو بيا خو دا مبارزه ډير ژر مثبته نتيجه ورکوي او که داسی نه شي نو هرومرو به زوی د پلار په شرابو لړلی پيك ځښي او همداسی نور .

حضرت عمر رضی الله عنه مخکی له دی چې په اسلام مشرف شي هم د عالی خويونو نمونه وه ځکه دغه دری ځيزونه چې مخکی ياد شو د ډيرو سپکو عملونو له جملی ځخه دي او د ډيرو ضعيفو اخلاقو خاوندان د دغه سپکو اعمالو مرتکب کيږي .

کله چې حضرت عمر رضی الله عنه د اسلام په مقدس دين مشرف شو نو د اسلام

د ترقی له پاره یی هم بی ساری قربانی ورکړي دي او یوازینی اساس یی دا دی چی دوی عالی اخلاق درلودل او د وقار خاوند و .

فرمایی چی « نازل کړی می دی قرآنکریم په زړه او ژبه د عمر » مطلب دا دی کومه خبره چی د حضرت عمر رضی الله عنه د خولی وتله او یایی په زړه کی ګرځېدله او پریکړه یی غوښتله نو حضرت محمد صلی الله علیه وسلم ته به وحی راتلله . د مثال په ډول د ستر موضوع د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم کورته به خلك وتل ننوتل یعنی ستر نه و . دا خبره د ده په زړه کی وګرځېدله چی د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم کورته ولی هرڅوك ورننوځي . نو فوراً د ستر ایت راغی او د حضرت پیغمبر کورته بیا څوك په خپل سر نه شو ورننوتلی او اجازه به یی غوښتله . لنډه دا چی د عالی شخصیت خاوندان او په اصطلاح د ښه کرکتر لرونکی انسان ټیټ او سپك کارونه نه کوي او خپل وقار له لاسه نه ورکوي نو په هر کار کی اقتصادي ، اجتماعی ، اخلاقی او اسلامی جوانب او ګټی لټول ضروري خبره ده . که ضرورنه یی درلودل باید ځان ورڅخه وژغورو او که ګټی یی درلودلی اقدام ورته وه‌کړو .

که چیرته په انسان کی دغه تشخیص نه وي نو بیا خو انسانی مفهوم له لاسه ورکوي او د سختو زیانونو سره مخامخ کیږي او کومه ګټه نه شي کولای .

په هرحال د الکولو استعمال په ټوله نړی کی محکوم شوی دی او څوك ورته ښه نه وایی . علم یی نه مني ، د اخلاقو منافی دی ، اقتصاد ته تکلیف رسوي . په ټولنیز ژوند کی نفرت ورڅخه موجود دی او په نهایت کی یی په اسلامی ټولنو کی ګناه او جرم بولي ، او یوازینی خبره همدا ده چی (اثمهما اکبرّ منّ نّفعهما) د ګټی نه یی ضرر ډیر دی . دا چی دغه اصل غوره دی نو بیا ولی د پوهی او تدبیر خاوند هغه کار وکړي چی د ګټی څخه یی تاوان ډیر وي .

د مخدره او مسکره موداو په باب
د نافذو قوانيو حکمونه

زموږ د گران هيواد افغانستان په تقنيني اسنادو کی په خپل وخت او زمان د مخدره او مسکره موادو د استعمال ، توليد ، توريد او قاچاق په باب احکام موجود و او دي ، چی د دغه احکامو مطابق چال چلند روان وو او د مرتکبينو سره قانونی برخورد شوی دی او مواخذه شوی دي .

د قاچاق د مخنيوی قانون چی په (۱۳۵۱) کال د سنبلی ۲۸ نيتی څخه را په دی خوا نافذ شوی دی ، په دی باب حکمونه شته او همدا راز د جزا د قانون په (۳٤۹) ماده کی د مخدره او مسکره موادو په باب څه حدود ټاکل شوي دي او همدا راز د دی قانون په (٥١٤) ماده کی هم احکام موجود دي ، ولی د دی ټولو سره سره بياهم د وخت د غوښتنو ځواب نه شي ويلايی ، ځکه چی نن سبا د مخدره موادو په باب يوه خاصه سازماندهی روانه ده د استعمال توليد ، توريد له پاره يی

قاچاقبران په نړیواله سطحه فعالیت کوي او دنیا یې په حرکت کې کړی ده .

نو ځکه خو د وخت او شرایطو د غوښتنو مطابق یو قانون ته ضرورت لیدل کیده چې پکې په هر اړخیز ډول د دغه ناوړو اعمالو د مخنیوی په غرض د مرتکبینو له پاره په سزاگانو کې په کمي او کیفي لحاظ یو ځه بدلون راشي ، تر څو د نورو تدابیرو په ترڅ کې له قانوني لارې ځخه هم د مخدره موادو پر ضد مبارزه پیاوړتیا ومومي او اثرات یې موثره شي .

د غه ضرورتونو له امله و ، چې د مخدره موادو پر ضد مبارزه تر دې عنوان لاندې په (٥٧) موادو کې یو قانون طرح ، تدوین او د افغانستان د جمهور رئیس د تقنیني فرمان په اثر نافذ او د نورو پراوونو د طي کولو ځخه وروسته عملاً د تطبیق لاندې دی .

دا قانون په خپله دوهمه ماده کې داسې حکم لري :

د نشه یې موادو پر ضد د مبارزې هدفونه دا دي :

١ - د تریاکو (کوکنارو) او د چرسو (حشیش) د بوټې د کښت بندول .

٢ - د نشه یې موادو له پروسس ، پیرودل او پلورل ، واردولو او صادرولو ، وړاندې کولو ، ساتنې وړلو او راوړلو او استعمال ځخه مخنیوی .

٣ - په ملي او بین المللي ساحه کې د نشه یې موادو پر ضد د مبارزې د سختولو په دګر کې د هماهنګۍ تامینول .

٤ - د نشه یې موادو پر ضد د مبارزې په چارو کې د ادارو کورنیو او بهرنیو مؤسسو د پراخو او هر اړخیزو مرستو او همکاریو را جلبول .

٥ - د نورو ګټورو نباتاتو سره د تریاکو (کوکنارو) او د چرسو (حشیشو) د بوټو د کښت د بدلولو په چارو کې د کروند ګرو هڅول او هغوی ته د مادي او تخنیکي مرستو برابرول .

٦ - د معتادو کسانو د علاج کولو په خاطر د روغتونونو او د بیا رغونې د مخصوصو حایونو رامینځته کول او ټولنیز سالم ژوند ته یې چمتو کول .

٧ - د وقایوي تدبیرونو نیول او هر هغو کسانو باندې چې د تریاکو او د چرسو د

ساعت تیری او یا د غم او درد تیرولو لپاره د دی مادی ځخه په بیلو بیلو ډولونو استفاده شروع شوه او بالاخره د اعتیاد مرحلی ته ورسید ، چی نن سبایی په توله نړی کی تغر خپور شوی دی او ډیری بدی او ناوړه اغیزی یی کړي دي او کوي یی .

په دی کی شك نشته دی چی د کوم شی لپاره ضرورت حس شي طبیعی ده ، داد او ستدد یی هم زیات شي او یوه تجارتی بڼه پیدا کوي . همدا وجه وه چی دغه مادی ته د یو شمیر انسان دښمنه سوداگرو توجه را وگرځیدله او د ځمکو خاوندان یی دی ته تحریك کړل چی په خپلو کمو ځمکو کی دغه بوټی وکري ویی روزي او زیاته گټه ورڅخه واخلي ولو که د دوی دغه عمل د نورو په ضرر او تباهی تمامیږي .

دا پروسه په ډیره چټکی سره پر مخ تلله چی د دنیا ورپام شو ، د مریضانو اومعتادینو لپاره یی تدابیر ونیول شول . د کرونکو لپاره هم په بین المللی سطحه مادی امکانات برابر شول . په حقوقی لحاظ په دیر ابتدایی ډول د لومړي وار لپاره د دغه مادی او د دی امثالو لپاره مجازات وټاکل شول ، تولید ، تورید ، ساتنه ، خرڅلاو او استعمال یی جرم وگڼل شو . ولی دی کار د گټی په ځای تاوان پیښ کړ ، ځکه په کوم شي باندی چی قیودات او بندیز ولگول شي ضرورت ورته زیاتیږي ځکه چی تقاضا ډیره وي او عرضه نه وي نو د موادو قیمت هم لوړ ځي . د هغه ځه قیمت چی لوړ لاړ شي سوداگر یی په مختلفو ډولونو د ضرورت خاوندانو ته رسوي او په ډیره لوړه بیه یی په خلکو خرڅوي او کرونکی یی هم ډیات کړي . همدا وجه ده چی نن سبا د یوه عظیم پرابلم په حیث په جهان کی خلك ورسره مخامخ دي او ځان ورڅخه نه شي خلاصولای .

کوکنار :

خش خاش خپله یو بوټی دی او دا بوټی هم د ډیری اوږدی مودی را په دی خوا په وحشي (خود رویه) ډول په غرنیو سیمو او دښتو کی را زرغونیږي . په دی کی شك نشته هر هغه کښت گل وي ، که حبوبات او یا نور میوه دار او یا غیر میوه دار

نباتاتو کښت ، تولید ، پروسس ، پیرودل اوپلورل ، واردولو ، صادرولو ، وړاندی کولو ، ساتنی ، وړلو ، راوړلو او د نشه یی موادو په استعمالولو لاس پوری کول د جزایی مویدو تطبیقول .

په دریمه ماده کی داسی حکم کوي :

په دغه قانون کی د نشه یی موادو څخه مفهوم له هغو موادو څخه دی چی استعمال یی د سړی عادت گرځي ، فکري او عصبی خرابیتیا او اخلاقی انحطاط مینځته راوري ، د سخت علاجو ناروغیو د رامینځته کیدو باعث گرځي یا په ټولنه کی د روغتیایی تو ټولنیزو ستونزو د مینځ ته راتللو سبب کیږي .

د دی قانون په حکم د افغانستان په قلمرو کی د تریاکو او چرسو او هغه بوټو کرونده منع ده چی مخدره مواد ورڅخه لاس ته راځي څوك چی دغه كار وکري کرلی بوټی د واکمنی محکمی د حکم څخه وروسته له مینځه ځي او مرتکب یی د لندی مودی په بند او یا د شپږ دیرش زره افغانیو په جریمه او یا په دواړو جزاگانو باندی محکومیږي ، د دی قانون په دولسمه ماده کی په صراحت سره حکم شوی دی چی د نشه یی موادو قاچاق منع دي او مرتکب ته به یی د دی قانون د حکمونو سره سم جزا ورکول کیږي .

د حکومت له اجازی پرته یی تولید ، پورتنیو ، پلورنی ، تورید ، صدور ساتنه وړنه راوړنه یی د قاچاق په نوم قبوله شوی ده . د دی قانون د حکمونو سره سم دد غه پورینو عملونو مرتکبینو ته ځانگړی جزاوی ټاکل شوي دي چې په لاندې ډول ورته توجه په کار ده :

الف - شلمه ماده

هغه څوك چی قاچاق کوي :

۱ - که د موادو مقدار تر پنځوسو گرامو پوری وي ، د لندی مودی په بند بندي کیږي .

۲ - که د موادو مقدار له پنځوسو گرامو نه تر یو کیلو گرامو پوری وه په منځنی بند بندي کیږي .

۳ - که د موادو مقدار او اندازه له یوه کیلو گرام څخه تر لسو کیلو گرامو

پوری وي ، تر اوو کالو پوری په اوږده بند ، بندي کیږي .

٤ - که د موادو مقدار له لسو کیلو گرامو څخه زیات وي د حالتونو سره سم له اوو کالو څخه په زیات اوږده بند او دوام بند باندی محکومیږي .

ب - پوروېشتمه ماده

څوك چې د چرسو قاچاق وکړي :

١ - که د موادو اندازه تر پنځوسو گرامو پوری وي تر دریو میاشتو پوری په لنډ بند بندي کیږي .

٢ - که د موادو مقدار له پنځوسو گرامو څخه تر دری کیلو گرامو پوری وي ، له دری میاشتو څخه زیات د لنډی مودی په بند بندي کیږي .

٣ - که د موادو اندازه له یوه کیلو گرامو نه زیات تر لسو کیلو گرامو پوری وي ، په منځنی بند بندي کیږي .

٤ - که د موادو اندازه له لسو کیلو گرامو نه زیاته وي د اوږدی مودی په بند بندي کیږي .

ج - دوه ویشتمه ماده

څوك چې د نشه یی موادو د کیمیاوي مشتقاتو د یوه قاچاق وکړي په لاندی دول مجازات کیږي :

١ - که د موادو مقدار تر لسو گرامو پوری وي تر دوو کالو پوری په مینځنی بند بندي کیږي .

٢ - که د موادو اندازه له لسو گرامو نه تر پنځوسو گرامو پوری وي له دوو کلو څخه زیات په منځنی بند محکومیږي .

٣ - که د موادو مقدار له پنځوسو گرامو نه تر یو کیلو گرامه پوری وي د اوږدی مودی په بند ، بندي کیږي .

٤ - که د موادو مقدار له یوه کیلو گرامه څخه زیات وي په دوام بند محکومیږي .

البته همدا راز د نورو نشه یی موادو په باب د جزاگانو ټاکل د موادو د اهمیت او

اضرارو په نظر کی نیولو سره ترسره کیږي او د مرتکبینو سره یی چال چلند کیږي .

البته محاکم د نیول شوو موادو په مصادره کی حکم کوي ، په پوره تفصیل خبری شوي دي چی د دی اعمالو د مرتکبینو لپاره په کی په کمي او کیفي لحاظ مالي او بدني جزاگانی تراکل شوي دي . دا خبره هم د یادونی ور ده چی د دی قانون په (٤٤ ، ٤٥ ، ٤٦ ، ٤٧ ، ٤٨ او ٤٩) مادو کی وقایوي تدابیر او د معتادینو د علاج له پاره مشخص احکام هم ځای شوي دي چی باید عملي شي .

په همدی ترتیب د دی قانون په (٥٠ ، ٥١ ، ٥٢ ، ٥٣ ، ٥٤) مادو کی په ترتیب سره د عامی روغتیا ، کرهنی او د ځمکو د اصلاحاتو ، کورنیو چارو ، د ښوونی او روزنی د لوړو تحصیلاتو ، اطلاعاتو او کلتور ، د اسلامی شؤونو او اوقافو ، د باندنیو چارو وزارتونو او د حقوقو د ساتنی د ارگانو وظایف ، وجایب او مکلفیتونه همگونه شوي دي چی هر یو باید د غه احکامو په رڼا کی خپلی دندی انجام کري او خپل ملي او وطني رسالت ترسره کړي او په نهایت کی نور متفرقه توضیحات هم په دی قانون کی ځای شیوي دي چی پاملرنه ورته د هرچا دنده ده .

کوم شی چی یادونه یی نهایت ضروري بولم هغه دا ده چی د دی ناوره ، پدیدی په ضد مبارزه که له یوی خوا باید د کورنی نه شروع شي د چم گاوند ، اولسوالی ولایت څخه تیره شي او په نهایت کی ګډه بین المللی همکاري لاتینګه شي تر هرڅه لوړی یی کرونده بنده شي نو بی له شکه به دا مبارزه موثره وي او هلی ځلی به مثبته نتیجه ورکړي او که داسی نه وي نو ستونزی یی زیاتی او کشالی لري ، زما په عقیده یوازی د قانونی جزاگانو سختوالی به د دی کار د مخنیوی له پاره مؤثر ثابت نه شي ، ځکه د وژنی جزا دیره سخته ده ولی مخه یی نه ده نیول شوی او مرگ او وژل روان دي .

مورږ د احتکار له پاره په خاصو شرایطو کی دیری درنی جزاگانی د قوانینو په انفاذ وتاکلی او مبارزه وشوه ولی کله یی هم مخه ونیول نه شوه .

زه بیا هم د گډی همکاری اصل ته په دی برخه کی په خاص ارزښت او ضرورت تینګگار کوم او د دی لاری د هر ناوره عمل په ضد مبارزه مؤثره بولم او دا یو علمی او

منل شوی اصل دی .

دا د کور چم گاونډ څخه نیولی د یو مملکت په سطح وي او که په نړیواله سطح خو اثرات یی مثبت دي گټور دي او هلی حلی یی بی اثره نه پاتی کیږي ، او که خدای کول نشه او نشه یان به هم ورك شي .

ARIC
B
6.54
KHA
3380
cp.2

Series No: 71-

Publisher:

By:
The Writers Union of Free Afghanistan (WUFA)

NORCOTIC'S and it's METERIAL

Abdul Hadi
Khalil Zai

Copies 2000-
Peshawar 1994-

بوټي چې د دهقان او باغوان لاس يې نه وي ليدلای ، او په طبيعي ډول زرغون شوی وي په هر لحاظ د هغه بوټي سره ډير فرق او توپير لري چې باغوان ، دهقان يې وروزي .

لکه چې د مخه مې ورته اشاره وکړه دغه بوټی هم خودرو زموږ او ستاسې په دښتو کې اوس هم د ريدي ګلونه شته دي . دغه بوټی او د حشيش بوټی هيڅ فرق نه لري . د ريدي ګل او د حشيش ګل يو ډول او د ګل په مېنځ کې غوزه په عين ډول ده ، البته وړه ده په مېنځ کې دانې يې عين دانې دي . د خوند او ذايقې په لحاظ عين شی دی ولې خودرو دی ، هغه توان او طاقت چې په روزل شوي بوټي کې دی په دې کې نشته او دا خبره علم ثابته کړې ده .

زراعتي غنم او زمور پخوانی غنم ، لوبيا ، ارزن ، انګور ، زردالو ، شفتالو ، خربوزه ، هندوانه او داسې نورو سره د خُمکې او آسمان توپير لري .

په هرحال په دې خبره سره ډير سر نه خوږوو ، ځکه چې عيان ته د بيان ضرورت نشته . د لغت په کتابونو کې دا بوټی تعريف شوی دی وايي :

دا يو بوټی دی سپين او سره ګلان لري د خشخاش د بوټي ميوه د يوې غوزې په شکل ده او د ګلانو د پاڼو د تويدو څخه وروسته ښکاره کيږي . مېنځ يې د دانو څخه ډک وی خلك يې خوري او غوړ ورڅخه لاس ته راوړي .

کله چې د دې پانې ورژيري غوزه يې په مخصوصو تيغونو باندې په موازي خطونو باندې غوڅوي او په دې وسيله ورڅخه سپينې پې (شيره) راوځي چې د وچيدو څخه وروسته يو قهويي رنګ پيدا کوي هغه په مخصوصو وسايلو ، الاتو او ادواتو را غونډوي او دغه مجموعه د ترياکو په نوم يادېږي . د خشخاشو په شيره کې مختلف الکالويدونه وجود لري لکه موُفين نارکوين او داسې نور .

لکه چې د مخه مې چې وويل دا ماده هم په يوناني طب کې د دارو او درمل لپاره استعمال شوې ده ، او نن هم په علمي لحاظ په طبي دارو درملو کې ورڅخه استفاده کيږي . ما تر مخه په دې خبره ، خبرې وکړې چې د بده مرغه يو سلسله انساني

غریزی او غوښتنی وی چی د دی مادی ځخه دغه ډول انسان دښمنه استفاده شروع شوه ، چی نن سبا ورسره توله نړی مخامخ ده او د حل لاره ورځخه په ورکیدو ده .

د زیاتو انکشافاتو په اثر ډاکتران دی نتیجی ته رسیدلي دي وایی چی ، د خشخاش گیاه (بوټی) خپله مخدره ماده نه ده بل که یوه منبع ده چی د هغی نه افیونی مواد لکه تریاک ، مورفین ، هیروئین او کودین په لاس راځي .

د تریاکو قانوني تولید په کال کی د (۱۲۵۵) تنو په شاو خوا کی دی چی د دارو درملو د جوړولو لپاره ورځخه استفاده کیږي . د تریاکو مهمترین عنصر مؤفین دی چی په سلو کی د اوو نه تر څوارلسو پوری د تریاکو والا مورفین دی چی کیمیاوي عمل په اثر د لابراتوارونو په وسیله لاس ته راوړل کیږي . او معمولاً د طبي استفادو لپاره وي لکه :

سولفامورفین ، هیدروکلورات ، مورفین او داسی نور .

مورفین د تسکین لپاره دیر زیات موثر دارو دي او د تسکین لپاره د دارو درملو لپاره یو ټاکلی مأخذ دی .

د مورفینو زیات استعمال د هغه ځا له خوا کیږي چی د دې مادی سره سرو کار لري . ولی نن سبا خبره د دې نه تیره شوی چی دغه ماده د دارو درملو لپاره استعمال کري بل که د انسانانو د مرگ او تباهی لپاره ورځخه کار اخیستل کیږي او په خاص ډول ځوانان او تنکي ځوانان د دغه انسان دښمنه مادی د استعمال سره مخامخ دي او ورځ په ورځ زیاتیږي .

د نشه يی موادو ډولونه

الف - مخدر مواد :

د يو سند په حکم چی په (۱۹٦۱ او ۱۹۷۱) کلونو کی په يو بین المللی کنوانسیون کی د محاسبی او ارقامو په لحاظ په گوته شوي دي ، د سلو مخدره موادو په شاو خوا کی او په همدی رقم باندی سایکو ترافیکی مواد وجود لري چی د بین المللی نظارت لاندی دي . پوهانو او متخصصانو په څو کټه گوری باندی ویشلي دي . د مثال په ډول وایی چی فکری فعالیت کموي ، د اغصابو قدرت او توان زیاتیدو ته نه پریږدي ، د هیجاناتو سبب گرځي ، توهمات او خیالات زیاتوي او داسی نوری بدبختی رامنځ ته کوي .

دا مواد د نړۍ ځوان قشر ډیر استعمالوي . د نشه يي موادو استعمال په ډیره کمه موده کی په عادت بدلیږي .

په نشه يي موادو عادت کیدل د بشري ټولنو لپاره ډیره ستره ستونزه ده او ځوان نسل به د تباهۍ کندې ته ور وغورځوي .

طبیبان او ډاکتران د نشې د معتادینو علاج غوره لار نه بولي بلکه دوی په دې نظر دي چی د نشه یی موادو مخه باید ونیول شي او هلی ځلی باید وشي چې انسانان په دې زهرو عادت نه شي . دوی په دې عقیده دي چی له علاج نه یی وقایه غوره لاره ده .

له دې موذي او زهرجن رنځ نه د بشري ټولنو وقایه د نشه یی موادو په کرلو او قاچاق پابندي ده چې د حکومتونو له خوا باید وشي .

نوموړې رساله په خاص ډول د هغو هیوادونو په باب په زره پوری معلومات لري چی هلته د نشه يي موادو استعمال او کښت په زیاته اندازه کیږي او د هغو هیوادونو حکومتونه او خلك به د نشی د زهرجن رنځ په له منځه وړلو کی ګړندي ګړي .

که چیری حکومتونه ، او بشري خیریه ټولنی په دې لار کې هلی ځلی وکړي له یو بل سره لاسونه یو کړي او په ګډه د نشه یی موادو پر ضد مبارزه وکړي د نشه یی موادو د قاچاق او کرلو مخه ونیسيء موږ ایمان لرو چی دیر ژر به انسان له دې زهرجن رنځ نه خلاص شي .

که چیرې په دې لار کی له غفلت نه کار واخیستل شي حکومتونه او انساني خیریه سازمانونه د دې کار په مخنیوی کی صادقانه هلی ځلی ونه کړي په لوی لاس به انسان په دې جهنم کی واچوي .

د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنه هیله لري چې د دې رسالې په خپرولو سره د حکومتونو ، بشري خیریه ټولنو،او د نشه یی موادو پر ضد د مبارزه کوونکو سازمانونو توجه دې ته راواړوي چی ټول په ګډه د نشه یی موادو په له منځه ورلو کې هلی ځلی وکړي او انسانان له دې لویی بدبختۍ نه وژغوري .

نشي او نشه يي مواد

NORCOTIC'S and it's METERIAL

عبدالهادي خليل زی

نشې او نشه يي مواد

NORCOTIC'S and it's METERIAL

PROPERTY ACKU

د عبدالهادی خلیل زی لیکنه

فهرست

شماره	عنوان	صفحه
١ –	د اداري يادونه	الف
٢ –	د ليکوال مقدمه	(١)
٣ –	د نشه يي موادو تاريخچه	(٤)
	الف – بنگ	(٥)
	ب – کوکنار	(٦)
٤ –	د نشه يي موادو ډولونه	(٩)
	الف : په صحي لحاظ	(١١)
	ب : په سياسي لحاظ	(١١)
	ج : په مادي لحاظ	(١٢)
	د : په اجتماعي لحاظ	(١٣)
	هـ : په اسلامي لحاظ	(١٣)
٥ –	چرس	(١٤)
٦ –	هيروئين	(١٧)
٧ –	مورفين	(١٨)
٨ –	کوکائين	(٢١)
٩ –	ماندرکس	(٢٣)
١٠ –	د مخدره موادو د کښت لپاره د بزگرانو تشويق	(٢٦)
١١ –	په بين المللی سطح د مخدره موادو قاچاق	(٢٩)
١٢ –	په ځينو هيوادو کی د مخدره موادو استعمال	(٣١)
١٣ –	د مخدره موادو په ضد بين المللی هلې ځلې	(٣٤)

شماره	عنوان	صفحه
١٤ -	د مخدره موادو د قاچاق وړونکو لنډه تاریخچه	(٣٩)
	الف : په امریکا کی د دی مادی کشف	(٤٠)
	ب : د امریکا نه بهر د دغه مادی د کشف نمونی	(٤١)
	ج : المان	(٤٢)
	د : هالند	(٤٣)
	هـ : افغانستان	(٤٣)
١٥ -	د مایعو چرسو په باب	(٤٤)
١٦ -	د ښوونکي کتابچه	(٤٨)
١٧ -	تربیوي وسایل	(٥٠)
١٨ -	د ښوونی او روزنی لار	(٥١)
١٩ -	کوکا او کوکائین	(٥٦)
٢٠ -	د کوکا د بوټي په ارتباط	(٥٧)
٢١ -	مسکره مواد	(٦٢)
٢٢ -	د شرابو ډولونه	(٦٤)
٢٣ -	د شرابو صحي ضررونه	(٦٥)
٢٤ -	د مخدره او مسکره موادو په باب د نافذو قوانینو حکمونه	(٦٨)

د اداري يادونه

د نشې او نشه يي موادو رساله په داسې وخت کې چاپيږي چې د مخدره موادو د کرلو او قاچاق پر ضد د مختلفو بشري سازمانونو له خوا مبارزې روانې دي .

د نړۍ انساني او بشري سازمانونه په دې هڅه کې دي چې انسان د نشې له جهنم نه وژغوري . دا چې په نوموړې رساله کې د نشه يي موادو د پيدايښت د تاريخ په باب څه نه دي ليکل شوي موږ لازمه وبلله چې د نشې د پيدايښت په باب د کتاب په سريزه کې څو لنډې خبرې وکړو .

د تاريخ له نظره مخدره مواد د « سامريانو » زوړ ميراث دی چې اووه زره کلن زوړ تاريخ لري . نوموړی قوم ترياك استعمالول او د کوکنارو بوټی يی د خوښی ښوونکي بوټی په نامه يادوه .

همدارنګه اشوري طبيبان ، د مسيح له ميلاد نه په پيړيو پخوا د ترياکو په خصوصياتو وپوهيدل .

د بابلیانو ، مصریانو ، رومنیانو او کارتاژیانو له دې بوټي نه د دوا په ډول استفاده کوله . مصریانو له پخوا زمانو را هیسې تریاك د کوکنار په نامه پیژندل او هغه به یې د طبس په نامه یادول ، د طبس نوم ځکه ورکړل شوی و ، چې کوکنار د طبس په ښار کې دیر زیات کرل کیدل . د یوه بل روایت له مخې د کوکنارو کرل لومړی ځل له مصر څخه نورو هیوادونو لکه ایران ، افغانستان ، چین ، هند ، ترکیې او ځینو نورو اروپایی هیوادونو ته سرایت وکړ .

مجارستان د اروپایی هیوادونو له ډلې نه اولین هیواد دی چې د کوکنارو کرل په کې رواج شول .

د مجارستان بوټو پیژندونکو په یوه خپرونه کې لیکلي دي چې مجارستان څو پیړۍ د مسیح له میلاد نه مخکې له دې بوټي سره پیژندگلوی پیدا کړې او د دې بوټي له شیرې نه به یې کار اخیست .

په افغانستان کې بوعلی سینا بلخي او محمد زکریا رازي اولین کسان دي چې د تریاکو په غوره خصوصیاتو پوهیدلي او د دې بوټي له شیرې نه به یې په ځینو دواگانو کې استفاده کوله . له همغې پیړۍ نه را په دې خوا تریاك د یوې دوا په ډول د ځینو رنځورانو د علاج لپاره په کاریدل . تر دې اندازې چې ځمکې د تریاکو د کښت لپاره جوړې شوې او د تریاکو صادرول د یوې نشه راوړونکې دوا په نوم شهرت پیداکړ .

دې ډول زیاتو پاملرنو تریاك د مختلفو تجربو لاندې راوستل . د تریاکو تجارت دیر زیات شو . د قاچاق وړونکو او سوداگرو له خوا بزگران د کوکنارو کښت ته تشویق شول او خپلې زیاتې ځمکې به یې په کوکنارو کرلې .

نن ورځ د نشه یې موادو ډولونه په یو سلو پنځو ډولونو پیژندل شوي دي چې دا ټول په انسان باندې جسمي او رواني بدې اغیزې کوي .

دارو پیژندونکو نشه یې موادو په قوي او ضعیفو ډولونو ویشلې دي چې دا دارو په مختلفو ټولنو کې په مختلفو ډولونو د یوې خوښې راوړونکې او سکر راوړونکې مادې په ډول په کاریږي .